۹ - هغه خلك چې له دښمن سره دسولې په نوم لاسليك کوي هغوي پدې شك اوشبهه کې دي چې ددوي دالاس ليك به جنګ ختم کړي اومسئله به حل کړي خودا ددوي غلط فکر دي ځکه چې الله تعالى خپله موږ ته فرمايي چې يهوديان به هلته له تاسوڅخه خوش اوراضي شي چې له خپل دين نه لاس په سرشي اوله اسلام نه ووځي اودکفراوباطل پرستانوپه دايره کې داخل شي يهوديان اوعيسويان به ، څکله له تاسه راضي نشي ترڅوپورې دهغوي ددين پيروي ونکړي زموږ له هغوي سره دجنګ هدف اومقصد دادي چې هغوي غواړي موږ له خپل دين نه خارج کړي دوي به هميشه له تاسوسره جګړې کوي ترهغه وخت پورې چې تاسوله خپل دين څخه وګرځوي که چيرې بدوي وتوانيږي زموږ اويهوديانوترمنځ جنګ دعقيدې اومفکورې جنګ دې داجنګ زموږ دبقا جنګ دې . هغه خلك چې له صهيونستانوسره سوله کړي هغوي ګواکې ددې په لټه کې دي چې اسلامي امت تباه اوټوټې ټوټې کړي .

اودصهيونستانوهغه ليدلي خوب تعبيرپيښ باکړي چې دوي غواړي دفرات له سيند نه دنيل ترسند پورې يولوي قوت اوطاقت جوړکړي " ددې لپاره ددې خبرې واضح کول يکاردي " ديهوديانو سره سوله جنګ نه ختموي بلکې داسوله به داجنګ نورهم تودوي او دشغلورتابه يې ډېرولرې لرې ځايونه رسيږي .

۱۰ - په نړيواله اوخصوصاً دعربي هيوادونو په سطحه چې تراوسه دفلسطين دمسئلې دحل لپاره څومره پلانونه ترغوږلاندې دي هغه ټول ددې مسئلې دحل پرځاي ددې مسئلې ختمول اوياېې موجوديت له منځه وړل غواړي ترڅوچې ثمره يې ديهوديانو په لاس ورشي .

په اوسنيوشرايطو کې دهغوپلانونوعملي کول دټولې اسلامي نړۍ لپاره يوه زيانمنه اودتباهۍ ډوټه يوته کيدومعامله ده . ددې لپاره اخوان المسلمين دفلسطين دمسئلې دحل هغه ټول پلانونه اوتجويزونه چې دفلسطين مقدسې خاورې نه يوه ذره قدرهم تاوان وي په ډاګه ردوي . اخوان المسلمين داسې ټولې پريکړې ظالمانه ګڼي، داځکه چې دجادلته ذره غوندې حق هم نه وي او هغوي حقداروښيي

۱۱ - اخوان المسلمين هغه خلکوته هم خبرورکوي چې هغوي له صهيوني دښمن سره په رسم اورواج کې ځان شريك ګڼي اوددې رسم اورواج له زيانيدوڅخه به زيات خطرونه رامنځته شي اوزموږ دجنګ ماهيت به له منځه يوسي صهيونستانوته به ددې شرايط برابرشي چې هغوي به په ښکاره په اسلامي هيوادونوکې فساد خپروي لکه څنګه چې يې اوس په پټه توګه خپروي .

۱۲ - اخوان المسلمين "غفوخلکوته هم خبرورکوي چې هغوي دفلسطين دمسئلې محدودول اوياځندول غواړي دفلسطين مسئله دټولو مسلمانانو لپاره لويه اوله ټولونه اهمه اواساسي مسئله ده دفلسطين مسئله يوازې دعربومسئله نه ده اونه يوازې دمنځني ختيځ مسئله ده دغه دسيسې نوې نه بلکې له هغې ورځې نه رامنځته شوي چې زموږ او يهوديانو ترمنځ داجنګ ښيتي اوهم دوي غواړي چې داجنګ يوازې په عربو اسرائيلو اوبيا دفلسطين اواسرائيلو پورې محدودکړي موږ ددوي دغه جنګ محدود ډول هم نغندو، ټول مسلمانان چې دهغو په سرکې فلسطين واقع دې دخداي (ج) له دښمنانو ديهوديانو په مقابل کې يوموټي دي .

۱۳ - ټول اسلامي ، عربي امت چې دهغوي په سرکې دفلسطين مجاهدين (حماس) واقع دي دهغوي بدن اووينه دفلسطين په خاوره کې داسې حيثيت لري لکه په څراغ کې تيل مسلمانان دخپلو وينو په بدل به دفلسطينيانو له حقوقو څخه دفاع کوي اودجهاد ناره به پورته کوي چې دغه خلك به داسراء او معراج دزمکې داوسيدونکو تاريخ به خپلو وينولیکي . اوددوي به دتيرو (اشاره يې انتفاضې تحريك نه ده) په زوروښمن نه غاښ ماتوونکي ځواب ورکوي هغوي به په لوړ آواز دقرآني آياتونو تلاوت کوي دجهاد اوشهادت بيرغ لوړوي، ددې لپاره دالويه دشرم خبره ده چې موږ داسې سوله ومنوچې په هغې کې زموږ لپاره شکست وي ، له خپلو حقوقو څخه تيرشواوددښمن موجوديت ناره پورته اوهغه ومنوپه داسې حال کې چې ظالم يهوديان دخپلو وسلو په وسيله زموږزامن څکوي، زموږ حرمت اوعزت تريښولاندې کوي اوزموږ دمقدساتو اونظرياتوبې حرمتي کوي .

په نړۍ کې مسلمان اقليتونه

ترجمه لږ رحماني

دمرڅانې په ريګجنودښتوکې پالل شوي دين (اسلام) دجغرافيايي حدوداوقيوددونه خپلواك پرمخ ځي . له هندي امله دمکې له وړوکي چاپيريال نه راوتلي اوپه چټکۍ سره اوس دنړۍ په ګوټ ګوټ کې خپور شوي دي .

په لېرې ختيځ کې له جاپان نه واخله دلوديځ ترکليفورنياپورې په هرځاي کې ددې دين پتنګان شته . اسلام اوس په ټوله انساني نړۍ کې دپيروانو دشميرله مخې ترټولو نه دويم سترددين دي . په جغرافيايي لحاظ ددې دين پراخوالي په دريوډولوکيداي شي .

لمړي له اندونيزيانه ترمراکش پورې، دويم په اروپاشمالي امريکا اوآسټراليا کې اسلامي ډلې اودريم په چين اوداافريقا په جنوب کې دمسلمانانو نفوس .

په دې لاندې څوکرښوکې موږلومړي وله چې پراسلامي هيوادو مشتمله اوله اندونيزيا څخه ترمراکش پورې سيمه يې نيولي په ځاي پريږدو بلکې هغه ځايونه څيړوچې مسلمانان پکې اقليت دي .

۱ - شمالي امريکا : دلاسته راغليو شميرنو اومعلوماتوله مخې په امريکاکې پنځوس لکه (پنځه مليونه) مسلمانان ژوندکوي چې دټول نفوس شپږيه سلوکې (۲٪) تشکيلوي . په دې وروستيوکالوکې له آسيا څخه داراوانومسلمانانو دبهيرله مخې دغه ګڼه نوره هم زياته شويده د۱۹۸۲څخه تر ۱۹۸۸ کالوترمنځ موده کې تقريباً ۱۰ لکه (يوملیون)مسلمانان له نوروهيوادونه امريکا ته راغلي دي . دامريکا په څينې ښاروتو کې دمسلمانانو شميرپه ډول دي .

په کليفورنياکې پنځه لکه اويه نيويارك کې څلورلکه اوڅلويښت زره . تهران تايمز " ليکي چې په کليفورنيا کې ډيرومسلمانانو اصلي نژاد ايراني دي پداسې حال کې چې په نيويارك کې توريومتي مسلمانان اکثريت لري . ديوې سروې له مخې هرکال لږترلږه پنځه زره مسلمانان امريکاته ځي اوتابعيت يې اخلي .

دسپين پوستواروپايي مسلمانانو شميرپنځوس زره دي چې په متوسطه طبقه پورې مربوط دي، خوددې ډلې شميرورځ په ورځ په زياتيدودي له دې څخه ۱۵ فيصده هغه مسلمانان دي چې يهوديت يې پريښي اومسلمان شويدي پداسې حال کې چې په سلوکې څلويښت يې له مسيحيت نه اسلام ته راوښتي دي .

په امريکا کې په مجموعي ډول شپږسوه جوماتونه شته ، چې داداسلام داهميت لوي څرګندوي دي اواسلام دخپلو پيروانو لپاره دروڼ مشال په توګه څځه کيږدي .

په ۱۹۶۳ کال په امريکا کې دمسلمانانو اتحاديه جوړه شوه ، خو دادشمالي امريکا دمسلمانانو دضرورتونودپوره کولو لپارو ناکافي وه ، په همدې خاطرپه شمالي امريکا کې دمسلمانانو دانجمن تهداب کيښودل شو چې اوس ديوې لويې اوګټې وټې حيثيت لري .

په کاناداکې يونيم لك مسلمانان ژوندکوي . بايد ووايوچې په پورتنيو سيموکې چې هرځاي مسلمانان اوسي داسلامي غوښتنومطابق ژوندکوي، هغوي خپل ژوند دامريکا دبې پردې ژوند نه ساتلي "او اسلامي تعليمات يې دلارې مشال ګرځولي دي .

لوديځه اروپا : په لوديځه اروپاکې لږترلږه دوه مليونه مسلمانان ژوندکوي، په دې کې هغه مسلمانان هم شامل دي چې له مسيحيت اونورو دينونوڅخه اسلام ته راوښتي دي له بهرنه راتلونکو مسلمانانوکې اکثريت خلك په کارخانوکې اوددولويه صنعت کې کارکوي، په عادي شميريکې داکتران او انجنيران هم شته .

فعلا په برتانيا کې دجوماتونوشميرپوزره رسيږي ، دابوازې عبادځايونه نه بلکې دعربي ژبې اواسلامي علوموتدريس مرکزونه هم دي، دلته ډيرې اسلامي جريدې اورسالې هم خپريږي . همداراز شل منظمي اومنظورکړاسلامي مدرسي فعاليت کوي چې دقانون له مخې دعيسايي اويهودي مدرسوسره برابره درجه لري .

په فرانسه کې هم پنځه مليونه مسلمان اوسيږي چې څه دپاسه يوملیون پکې خپله فرانسويان دي چې داسلام حقانيت يې درك کړي اومنلې يې دي په فرانسه کې دمختلفو هيوادودمسلمانانو شميرپه دې ډول دي :

الجيريا ..... ۱۸ ، مراکش ..... ۵ ، تونس ..... ۲ ، ترکيه ... ۱۶۵ اونورافريقايي هيوادونه ..... ۱ سرېيره پردې دهنداوپاکستان څخه هم څينې مسلمانان په فرانسه کې ژوندکوي .

دحکومتي احصائيې له مخې په جرمني کې دمسلمانانو ټول شمير ۴۵ مليونه دي چې په دې کې پنځوس زره خپله جرمني مسلمانان دي ، تقريبا ۹ سوه جوماتونه پکې آبادشوي ، په دې هيوادکې ترټولونه وترکي مسلمانانو ګڼه زياته ده چې تقريبا دوه مليونو ته رسيږي ، څلورلکه عرب مسلمانان اويولك يوګوسلاوياني مسلمانان دلته ژوندکوي .

په بلجيم کې دمختلفو هيوادودري نيم لکه مسلمانان ژوندکوي، دلته له دويم عمومي جنګ نه وروسته په لومړي ځل الباتيايي مسلمانان راوکوچيدل له ۱۹۶۰- .۱۹۷کالوپورې په بلجيم کې دمسلمانانو دومره زيات شول چې د" بروسل " حکومت مجبورشو اسلام درسمي مذهب په توګه ومني اومسلمانانوته دخپل فرهنګ اواقتدارددساتلو اوپرمختګ موقع ورکړي .

هالبند نه دترکيې، سورينام ، تونس، پاکستان ، اندونيزيا، يوګوسلاويا اومراکش نه زيات شميرمسلمانان راغلي دي چې تقريبا ګڼه يې څلورلکو ته رسيږي .

(بايد ووايوچې داتيايي لسيزې په اوږدوکې دروسي وحشت له امله شمالي امريکا اولوديځې اروپا ته ګڼ شميرافغانان هم تللي اوهلته ميشته شويدي چې په اوسط ډول به يې شميرپنځولکوته رسيږي)

ختيځه اروپا: په ختيځه اروپا کې الباتيا يوازنې هيواددي چې مسلمانان پکې اکثريت لري، دغه هيوادټول دري مليونه نفوس لري چې ۷۰ فيصد يې مسلمانان تشکيلوي، لس په سلوکې مسيحيان اونوري دنورودينونو پيروان دي

يوګوسلاويا داسې هيواددي چې هلته دمسلمانانو لوي اقليت دي چې شميريې تقريبا څلورمليونو ته رسيږي اوديوګوسلاويا دټول نفوس ۲۰ فيصد جوړوي .

په بلغارياکې ۱۳ لکه مسلمانان ژوند کوي چې دټول نفوس ۱۴فيصده کيږي اوپه رومانياکې دمسلمانانو شمير پنځوس زره ته ده دي .

روسيه: د ۱۹۸۳ احصائيې له مخې په روسيه کې (دروسيې تراشغال لاندې محکومو جمهوريتونو کې) ۴۶ مليونه مسلمانان ژوند کوي چې دټول نفوس په سلوکې ۱۸ برخې تشکيلوي . سربيره پردې په نوروهيوادوکې هم لږودېرمسلمانان شته اوددنيا داسې څنده اوسيمه نشته چې هلته دې داسلام دين نه وي رسيدلي د۱۹۸۳ کال داحصائيې مطابق په مختلفو هيوادوکې دمسلمانانو شميرپه لاندې ډول دي :

دهيوادنوم	دمسلمانانوګڼه
استراليا	۳....
بنين (په افريقاکې)	۶.....
برازيل	۱۳۶ زره
برما	يوملیون او ..۳ زره
چين	۱۵ مليونه
قبرص	يوسل او ۳۰ زره
حبشه	۱۱ مليونه
ګانا	دوه مليونه
يونان	دوه سوه اوپنځوس زره
هند	....۸ مليونه
انبوري کوسټ (په افريقاکې)	له دوو مليونوڅخه زيات
کينيا	يوملیون اوسل زره
لائبريا	شپږسوه اوڅلويښت زره
ملايا	ترېرمليون زيات
موزمبيق	يوملیون اوابازره
نيپال	اته سوه زره
فلپاين	دري مليونه
روانډا	پنځه سوه زره
سنګاپور	پنځه سوه زره
جنوبي افريقا	دري سوه اودوشپيته زره
سريلانکا	يوسل اوپنځه ويشت زره
تانزانيا	شپږمليونه
تايلند	دوه مليونه
ټوګو (په افريقاکې)	پنځه سوه زره
ويتنام	پنځه سوه اوبازره
زاير	شپږسوه اوڅلويښت زره

بهترين راه بهبود جهاد وحدت كامل بين تنظيم هاي جهادي است

ویگرتکتیک هاي خاصي، نظم ووحدت درصفوف مجاهدین به برتري نظامي ماافزوده است . برعکس وضع نظامي دولت ملحدبا ازدست دادن پایگاهاي نظامي وپرسونل فني ومسلکي خیلي هاتضعیف گردیده است .

سوال : درحالیکه همه میدانیم درسمت شمال کشور، جبهات خیلي نیرومند مجاهدین موقعیت دارد ازینکه مجاهدین توانسته اند شاهراه عمده اکمالاتي کابل - حیرتان رابه روي وسایط نقلیه حکومت مزدورمسدود سازد وجوهات آنرا درچه میدانید ؟

جواب : بشماهم شاید معلوم باشدکه شاهراه کابل - حیرتان یك ساحه خیلي ها همواربوده ، برهمین لحاظ مسدودکردن آن براي مجاهدین تااندازه مشکل است ولي باآنهم قطاروکاروان مربوط به دولت ملحد که ازین شاهراه عبورمیکند ازحملات مجاهدین مصئون نبوده، همواره مورد حمله مجاهدین قرارمیگیردوتلفاتي بي حساب درین منطقه به رژیم مزدوردرطول سیزده سال وارد شده ودرآینده نیز وارد خواهد شد .

سوال : یك سلسله درگیري ها بین گروپ هاي مجاهدین درسمت شمال بصورت عموم وجودداشت فعلاً وضع ازچه قرار است واتحادبین مجاهدین درچه سطح قراردارد ؟

جواب : گرچه درولایت کندزدرگیري هاي گروپي وجودندارد بخاطرجلوگیري ازین عمل ازدوسال قبل شوراي جهادي که متشکل ازهمه تنظیم هااست بوجودآمده وقوماندانان شامل این شورا دربخش هاي مختلف مسئولیت دارند دررفع مشکلاتي که ازناحیه درگیري بعضي گروپ هاي مغرض ومفسد بوجود مي آید توسط همین شورا حل وفصل میشود فعلا درولایت کندزمجاهدین درفضاي نهایت صمیمیت وبرادري زندگي داشته واکثرعملیات ها که بالاي لانه هاي دشمن صورت میگیرد متحدانه مي باشد .

سوال : یك تعدادي به این نظراند که : گویا معضله افغانستان ازطریق حل نظامي ناممکن است وصرف حل سیاسي میتواند مشکلات کنوني را ازبین ببرد نظرشخص شما درمورد ازچیست .

جواب : آنانیکه بااین نظرهستند که حل معضله افغانستان ازطریق نظامي ناممکن است وصرفاً راه حل آنرامذاکرات سیاسي وانمودمي کنند درحقیقت ازفتوحات روزافزون مجاهدین بي خبراند، فتح ولایات ، ولسوالي ها واکثر پایگاهاي نظامي دشمن ثابت میسازدکه مجاهدین قادرهستند که معضله افغانستان را ازطریق نظامي تصفیه کنند، اماحل سیاسي راکه خواسته مردمان عافیت طلب ودورازجهادمیباشند وبخاطر، ازطرف این نوع مردم پیشنهادمي شوند تاجاي پاي براي خودکسب کنند تلاش حل سیاسي ایکه مطابق خواست مجاهدین وملت شهید پرورومانباشد ماآنرا مردود میشماریم وتاسرنگوني مکمل رژیم ملحد به جهاد خویش ادامه میدهیم .

سوال : بمنظور بهبودوضع عمومي جهاد درکشور عزیز کدام راه هاي را مفید میدانیدتابا مراعات کردن آن حالت کنوني جهاد بهترشود ؟

جواب : بهترین راه که میتواند وضع جهادرابهبودبخشد وحدت کامل مجاهدین است که همه مجاهدین دریك صف واحد علیه دشمن سفاك جهاد نماید .

سوال : ازمدتي زیادي است که چنین

تبلیغات صورت میگیرد که جهادمسلحانه درکشور بارکود شدیدي مواجه گردیده ومجاهدین نتوانسته اند تاکنون فتوحات چشمگیر نظامي رابه دست آورند درزمینه نظرشماچیست ؟

جواب : به فضل خداوند (ج) وضع جهاد درتماماً ولایات افغانستان اطمینان بخش بوده آنانیکه علیه مجاهدین تبلیغات سوء را براه انداخته نمیدانم که روي چه دلیل این ادعا رامینمایند که گویا وضع جهاد درافغانستان به رکود مواجه است به عقیده من آن هاي که این تبلیغات را براه مي اندازند اصلا کدام علاقه یي به جهاد نداشته وحتي ازپیروزي مجاهدین درهراس اند . فتوحات پي درپي مجاهدین اثبات مینماید که لله الحمد جهاد مادرین اواخر به پیشرفت هاي چشمگیري دست یافته ، رکود اصلا درسنگرجهاد جاي ندارد وانشاء الله آن زمان دورنخواهد بودکه رژیم مزدور وفروخته شده براي ابدنابودوحکومت اسلامي که خواست دیرینه مردم مسلمان وآزاده ماست درافغانستان عزیز مستقرگردد .

دراخیربه همه برادران مجاهد وملت مومن ومسلمان خویش اطمینان میدهیم که پیروزي نهائي ازآن مجاهدین است درین شرایط نهایت حساس که دشمن آخرین نفسهاي خودرامیکشد ودردقایق آخرزندگي قراردارد صبرواستقامت را ازدست نداده وبه تبلیغات سوء وعوام فریبانه دشمنان اسلام گوش فراندهند .

والسلام

خبرنگار : محبوب الله " محمدیار"

يك دستگاهِ راكت هاي سكد حين پرتاب در مزارشريف منفجروازبين رفت

کابل ۱۶ر۵ر ۱۳۷

خبرگزاري (صدا) ازقول خبرنگار اعزامي خودکه تازه ازکابل بازگشته است خبرمیدهد که یك دستگاه فیرسکد رژیم ملحدکابل درمزارشریف هنگام پرتاب راکت سکد برمناطق مجاهدین درولایات هنجوارتاریخ ۳ر۵ر ۱۳۷ منفجرشده وازبین رفته است .

خبرمي افزاید : دستگاه منفجرشده فیرسکد ازجمله دودستگاهي بود که برعلاوه دودستگاه قبلي تازه به افغانستان وارد ودرشهرمزارشریف نصب گردیده بود

شورشيان جنوب سودان باانجام مذاكرات بادولت موافقت كردند

۱۵ اسد

دولت سودان وشورشیان جنوب انجام مذاکرات رازیرنظرابراهیم بوبنگیدا رئیس جمهوري نایجریا موافقت کردند .

یك مقام ارتش نایجریا دریك کنفرانس مطبوعاتي گفت مذاکرات به احتمال زیاد درنایجریا صورت خواهد گرفت ما عرفات تاریخي را ارایه نکرد .

رئیس جمهوربو بنگیدا ریاست کنوني وحدت افریقا را به عهده دارد . یك سخنگوي شورشیان گفت :که ایشان بدون هیچگونه پیشرفتي با آغاز مذاکرات موافقت کردند

اسلامي هيوادونه څنګه دجهاد او قربانيوپه پاي کي دجهاد له ثمرونه بې برخې ساتل شوي ؟

لیکونی

په دي کي هيڅ شك نشته چي اسلامي امت تل دخپل، پت، ناموس، هيواداواسلامي عقايدو پرخلاف دهرتيري ځواب دجهاد او شهادت له ولولونه په ډكواحساساتو ورکړي اوته بوازي داچي دخپل ايماني مسئوليت په احساس بې دخپل دين اووطن ددښمن پرخلاف توري ته لاس کړي لاچي هرډول مادي اوځاني تاوانونه بې په خوراصبر اوزغم سره ګاللي هم دي اوبوځل بيابي دنړي كفري ځواکونوته ثابته کړي چي داسلامي امت په مړواړوکي لاهماغه دنبوي دوران له ايمانه ډکې سپرغۍ پټې دي، چي په رابرسيره کيدو او دصحيح اوايمانوال قيادت په لرلو سره كولاي شي چي كفري نړي ته دخالد (رض) ، حمزه (رض) ، عمروبن العاص (رض) ، نورالدين زنګي (رح) اوصلاح الدين ايوبي په څيرډتورو په ځلکاکي دراشده خلافت دبې ساري اسلامي عدالت وړانګي وځلوي اوبوځل بيادالهي عدالت ترسيوري لاندي اسلامي امت اوګردي نړي ته دسولي او وروروولي پيغام ورسوي .

هوا كفري نړي دتاريخ په اوږدوکي په هردوران کي له اسلامي امت سره دجهاد اوشهادت په ډګرکي مخامخ شوي اوچي کله بې دمسلمانانو په وينوتوبولو اوايمان ازميلوکي کوم بري ترلاسه کړي نه دي، نوبې دروغي جوړي ترنامه لاندي سياسي چلونې په كاراچولي اومسلمانانوديوه سالم اولرليدونکي مشرتابه دنه لرلوله امله په دغه ډګرکي نه بوازي داچي ماتي خوړلي، لاچي دخپل جهاد اوقربانيو ثمره بې چي هماغه داسلامي عدالت مبارك سيوري دي، هم په برخه شوي نه ده ، اومسلمانان دخپلو هيوادوله آزادي اوله بې ساري قربانيو سره سره دكفري ځواکونو په ځولي کي پريوتي دي .

داسلامي نړي سترمفكر سيدابوالحسن علي " ندوي " په خپل کتاب (په اسلامي هيوادوکي دمسلماني اولويدبځوالي ترمنځ اړوبيچ) کي ليکي :

" دادتاريخ حيرانوونکي دردناکه پېښه اودسياسي چلونوعجيبه تاروا اوتيري دي، چي په کوم اسلامي هيوادکي چي ترکومه پوري دآزادي جګړه روانه وي، اودپرديولاه واکه دخلاصون ترلاسه كولو له پاره له ولولو نه ډکې سروركوني اوقرباني ته اړتياوي، نوداسلامي امت افرادچي دخداي (ج) له رضا، اخروي اجراوثواب اواسلام له سرلوړي پرته دکوم بل هدف سره ميئنه نه لري ، ددين له ژبې پرته پربله ژبه نه پوهيږي ، اوله مذهبي شعارونو پرته دهغوي په وينوکي جوش اوبه دماغونوکي دقرباني نشه نه راولاړيږي، نوآزادي رهبران ترډغي ژبې پرته له خپلوخلکوسره پربله ژبه خبري نه کوي، هغوي دهمدي ديني شعارونو، دالله (ج) دنامه دلوړاوي ، داسلام دحاکميت په هيله مسلمانانو ته په اور اووينوکي دلويدلو بلنه ورکوي، اودهمدغه ايماني ځواك په وسيله (دڅه له مخې چي دپولرشميرمسلمانانو په مقابل کي نور قامونه نه شي تم کيداي) دآزادي کلا فتحه کړي، اونه ماتيدونکي دښمن له ماتي سره مخامخ کړي، خوکله چي دغه مرحله سرته ورسيږي ، او دهيوادواګي اوواك او يوه مسلمان ملت پرخليك دهغوي دسياسي مشرانو لاس ته ورځي، هغوي هيواددلويديځ والي اوسيکولريزم پرلارو روانول پيل کوي اوژرترژره دتولني داصلاح له پاره داسلامي قانون پرځاي دلويديځوالو قانوني نظام دودکول غواړي، اودغه کاريه دومره چټکتيا سره پيل کوي ، چي ځيني وختونه هغه خلك چي داسلام اوخپلواکي په خاطريې بې ساري قرباني ورکړي وي، داسي فكركولوته اړکوي، چي ښايې هغوي غلطي کړي وي، اودهيواد دآزادي اوبه اسلامي ژوندانه کي دګډوډتياپرځاي ښايې مضرثابت شوي وي .

په دي لړکي كه دلويديځ استعمارنه دآزادو شويو هغو هيوادونو تاريخ ته نظرواچول شي، چي دخپل هيواددآزادي اواسلامي نظام درامنځته کيدو له پاره چي په لومړي سرکي بې ساري قرباني ورکړي، خوچي کله بې دتوري ډګرګټلي اولويه دسياست په ډګرکي پيل شويده نو په ناخبرتيااوناپوهي کي بې دهغوسياسي لويغاړو واك ته خپل برخليك سپارلي اوياسپارل شوي، چي دهماغه ښکېلاکګرلويديځ په ځولي کي روزل شوي اوددغسي يوي ورځي له پاره ساتل شوي دي .

۱- تونس : په شلمه عيسوي پيړي کي دهغواسلامي هيوادو په سرکي دتونس نوم راځي چي په ۱۹۵۷ م کي له فرانسوي استعمارنه ددغه هيوادمسلمان ملت دخپلو وينو او قربانيو په بيه دخپل هيواد آزادي داسلامي نظام دقيام له پاره ترلاسه کړه ، نولومړي جمهوررئيس " الحبيب بورقيبه " چي کله ددغه هيوادسياسي واګي په لاس کي واخيستي ، نوداسلام پرځاي بې يکې پرلويديزو اصلاحاتو پيل وکړ اوله دي امله چي نوموړي په فرانسه کي دهمدغسي وخت له پاره روزل شوي و، دفرانسي له کلتوراوثقافت پرلبکويي دتونس داسلامي هيوادودانول پيل کړل .

۲- الجزاير : دافريقادلويې وچي په دغه اسلامي هيوادکي دجولاي په دريمه په ۱۹۶۲ م کال کي الجزايري مسلمانانو دتاريخي قربانيو په نتيجه کي له فرانسوي استعمارنه آزادي ترلاسه کړه ، اوالجزايردآزادي يوځي محاذ مشرانوته وسپارل شو، دفرحت عباس اواحمدبن بلا ترمشرتابه لاندي آزاد حكومت جوړکړاي شو، په پنځلسم دسپتمبر د۱۹۶۳ م کال کي انتخابات وکړاي شول اوبن بلا دالجزاير دملي جمهوريت قانوني جمهوررئيس وټاکل شو، احمدبن بلا دمصردجمال ناصر له دوستانو اوهمفکرانوڅخه و، دهغه په ټاکلوکي جمال ناصرلوي لاس لاره ، داحمد بن بلا دواکوال کيدو په نتيجه کي الجزاير دسوسياليزم لارغوره کړه اودجمال ناصريه څيرېي دديني ذهنيت دمحدودولو اوله حكومت نه دلري ساتلو كوښښ وکړ اوله كمونستي هيوادوسره بې خپلې اړيکي پراخې کړي .

دالجزاير دآزادي جنګ دجهادپه جزبه ، دشهادت په مينه اوداسلامي غيرت پراساس ګټل شوي و، اودقرباني اوسرتيري داسي مثالونه پکي رامنځته شول چي مثال بې تاريخ په تيروځوپيړيوکي نه شي وړاندي کولاي، دالجزاير دآزادي په جنګ کي پنځلس لکه الجزايري مسلمانانو دشهادت جامونه وګټل .

خوله آزادي وروسته سياسي واك دداسي کسانو لاسوته ورغي ، دچاروزنه چي دديني مرکزونو اوروحاني روزنتونو پرځاي دفرانسې په عسکري ښوونځيوکي شوي وه ، په هغوي کي ځيني مشران داسي ووچي عربي ژبه ورته پردي وه اوبري نه پوهيدل ، اوهغوي ترډيري مودي په غرب کي دپاتي کيدوله امله داسلام داخلاقي ښوونو سره نااشناوو، دغوسياسي مشرانو دالجزايري مسلمانانوشهيدانو دولولو پرځاي دالجزاير وداتول دلويديز پردودپيل کړل .

۳- ليبيا : دشمالي افريقا مشهوراسلامي هيواد چي سرحدونه بې په ختيځ کي له مصراوسودان ، په جنوب کي له چاداونايجيريا اوبه لويديځ کي له الجزاير اوتونس سره لګيدلي دي، له تيروځوکلوراپه ديخوادډتيلودشته له امله دزيات اهميت لرونکي هيواددي .

سيدمحمدبن علي السنوسي له ۱۷۹۱ نه تر ۱۸۵۹ م پوري په دغه هيوادکي هستوګنه کړي وه ، نوموړي دتصوف ديوي سلسلي لوي بزرګ تيرشوي دي، دهغه له امله دسودان په لويه صحرا اولويديځې افريقا په نامسلمانو خلکوکي اسلام په پراخه پيمانه خپورشو، اودپخوانيو مسلمانانو ژوونه پراسلام منورشول، دهغه ددعوت اوجهاد اغيزي په ليبيا اومرکزي افريقاکي ډير ژرخپري شوي .

په ۱۹۵۹ ميلادي سيدمحمدبن علي السنوسي وفات شو اودهغه لايق زوي سيدي مهدي السنوسي دصحابه کرامو(رض) په څيريه بدني او روحاني ډول دخلکو روزنه وکړه اوله نفس سره مجاهده اوله کفاروسره دجهاد جذبه بې په کي په خورا مهارت سره راژوندي کړه ترده وروسته بې وراره سيدي الشريف (چي دامام السنوسي په نامه په ګرده نړي کي مشهور شو) ددعوت اوجهاد دغه تحريك لاپسي ځواکمن کړاود(برقه) او طرابلس په جګړوکي بې له اروپايانو اوايتالويانو سره پرهغوي خپل شجاعت ، زړورتوب اودقيادت استعدادومانه ، سنوسي مجاهدين پرله پسي ديارلس کاله دايتاليي پرخلاف و جنګيدل اوبالاخره بې دخپلو بې دريغه قربانيو په نتيجه دايتاليي پراخ استعماري هيوادله ليبيا نه لاس په سرکيدوته اړکړ . په ۱۹۳۲ ميلادي کال سيدي احمد الشريف په مدينه منوره کي وفات شو .

په ۱۹۵۱ ميلادي کال کي ليبيا ته مکمله آزادي ورکړاي شوه اوسيدي محمدادريس السنوسي دلومړي ځل له پاره دليبيا دحکومت مشروټاکل شو، چي دسيدي مهدي زوي اودامام سنوسي دتره زوي و، دسنوسي عالمانو دهلتي اوجهاددغيزله امله دليبيا په خلکوکي دين ته ميلان زيات شو، او دهماغوي ددعوت په نتيجه کي داسلام داسي مستحکم تهذاب کيښودل شو، چي بوډول كفري لاسبوځي ځواك هم له منځه ولاړ نه شو، اوهمدا لامل دي چي دليبيا خلك دپټرولو دزيات دولت له لرلو سره سره دلويديځ تمدن له اغيزنه ترډيره حده ساتلي دي .

په ۱۹۶۹ ميلادي کال کي په ليبيا کي دقزافي په مشرۍ کودتاوشوه اوددغه مجاهد اوروحاني خاندان پرځاي دحکومت واګي يو ۳۷ کلن بې بندوباره پوځي ځوان ته په لاس ورغلي، اوکومه فلسفه اومسلك بې چي خپل کړي، هغه داسلام سوسياليزم اوغربي ناسيوناليزم مجموعه ده .

دقرباني په ډګرکي دافغان دمومن ملت ننګياليو مجاهدينو، مهاجرينو اوزماداسلامي پت په نامه ژوندبوافغاني ورونو ! وګورئ چي استعماري ځواکونو په اسلامي نړۍ کي دمسلمانو هيوادونو دجهاد اوقربانيو پرخلاف څه ډول دسيسي په کاراچولي اوڅه رنګه بې داسلامي امت کوندي اويتيمان دخپلو شهيدانو له ارمانه بې برخې کړي دي .

همدغه نړيوال كفري ځواکونه يوځل بيا زموږ دمومنانه جهاد اوقربانيو پرخلاف سره متحد شوي دي اوغواړي زموږ دشهيدانوارمان چي هماغه الهي اسلامي نظام دي راڅخه وترروري ، هغوي غواړي دسياسي روغي جوړي په نتيجه کي خپل روزل شوي غلامان زموږپرمومن اوشهيدپال ملت وتپي .

هوا هغوي په هراخيزډول دسياسي روغي جوړي اودافغاني " دبالوګ " (خبراترو) نعره دملګروملتوله کومي راپورته کوي اوبه دي ډول داسلام اودهريت ترمنځ دروغي جوړي په ترڅ کي دلويديځ په ځولي کي روزل شوي عناصرچي زموږله جهاداوقربانيو سره له خيانت پرته به بې بل کارنه وي رامنځته کول غواړي .

زموږ دمومن ملت دسياسي بصيرت لرونکيو ښاغليوا هوښيار اوسي چي لکه څنګه موچي دخپل اسلامي پاڅون نه ترنته دهرډول كفري ځواك په مقابل کي داسلام له حريم نه دفاع کړي همداسي ديوه سوچه اسلامي قيادت په رامنځته کولو کي خپله اسلامي اوتاريخي دنده اوفريضه هيره نه کړي اويوځل بيا ثابته کړي چي که مسلمانان دقرباني په ډګرکي له هيچانه وروسته نه دي اودګران اسلام اوالهي کلمي دلوړوي له پاره هرډول قرباني ورکولاي شي ، نوددي پوهه اودرايت ان شاء الله هم لري چي پراسلامي پوهه سمبال قيادت دخپل ملت اوټول اسلامي امت له پاره وټاکي .

افغاني مجاهدوننګياليو ورونو ! دګردي نړي دمستضعفو مسلمانانو سترګي هم ستاسې په لوراووښتي دي .

راجستربندي،سباراشه

لنډه کيسه عبدالقهار

دپشه کال سخته ګرمي وه راغلوخلکو چي خداي خبرهغوي هم دسهارلمځونه په خپلوجوماتونوکي کړي وو اوکه په کماندري کي، هريوه خپلې خپلي خورجيني اوبوجي چي په راشن پسې بې راوړي وي اوبه خپل وارسره يکي په لمبرکي ايښي وي اولوي کتاريي ترې جوړکړي ؤ .

له ورايه داسي برېښيده لکه چي کوم ناقابله خټګردډيروکوراوکوين ديوال جوړکړي وي اوراغلوخلکوچي ډيره برخه پکي سپين ږيري اوماشومان وو خپل خپل څادرونه چادغنموډګودام سيوري ته اوچاهم په هغه چوتره کي چي دکمندري ماموريتو خپل ځان لپاره جوړه کړي ده غوړولي اودڅادرودپاسه دسيوري لاندي پراته وو اودکمندراو مربوطه ماموريتو دراتګ انتظاريي ايسته .

هواشيبه په شيبه ګرميد له بدي ورځ خوان له سهاره داسي ګرمي وه چي په سيوري کي هم ګوزاره سخته وه . ګړي د۹ بجويه شاوخاکي وه چي کمندرراغي اوراغلو مهاجرينوته بې امروکړ چي راپاڅي اوهريوه‌خپلوخپلو بوريو څنګ کي ودريږي اوبه نمبرسره راځي خپل پاسونه راجسترکړي اوراشن واخلي .

ساعت دوه خودغه سپين ږيرواووروماشومانودځوکيلوغنمو لپاره په داسره لمرکي تيرکړل اوچي بياهم بوه به خپله بوري راواخيسته نودچاخيره بوه تنې به هم ورله وچه پاتي نه وه ، ټولي جامي به بې دبدن په خولوکي لمدي شوي وي .

پوره يوولس نيمي بجي وي چي سپين سري بودي چي داټونهرکلونوماشوم لمسي بې دلاسه نيولي ؤ اودکمندري په خوابي ديره په توندي سره ګرندي ګرندي ګامونه اخيستل ، پدي ټمه چي نن به راشن اخلي اوهسي نه چي دنورو ورځويه شان بيامنفي ځواب واوري .

ځرنګمه نورهم دبودي اودکمندري دهغه بابودميزترمينځ فاصله لا پاتي وه کوم چي پاسونه بې راجسترته رسول اوبيابه بې راشن ورکاوه چي دبابوسترګي پټــــه بودي ولګيدلي ، دهغي فاصلي ته بې پري غږکړچي راجستربندي ، سباراشه ، ماتانه آبله ورځ نهووبلي چي سهاروختي راشه ؟

د خواره کي بودي دادريمه ورځ وه چي دغه راشن پسي کريدلي وه ، نوبه ژرغوني آوازبي، چي په پښتوژبه سمه نه پوهيدله ځواب ورکړ " بابوصاحب کي دسهارلمونځ مي چي کړي کي دخپل دغه لمسي سره راوتلي يم کي چاي مي هم نه خورلي ، هغه چوچه خوروکښي والاوږيره لري غلط ځاي کوزه کړم ديګه پيسي مي نه لرلي په پښوراغلم بيګاه هيڅ آردنه لرم ازبراي خدا (ج) دادريمه ورځ ده چي راځم اوبيا تش لاس بيرته ځم . نورخوڅوك آرد قرض هم نه راکوي واره لمسي به مي څه وخوري " بياهم دکمندري بابويه توندي سره ځواب ورکړ " څه څه موري راجستربندي خيرسبابل ځوك راولېږه ته مه راځه راشن به ورله ورکړو "

بودي چي په کورکي نورڅه نه درلودل اودغه راشن پسي چي بواځي دلسپانوقوت اولايموت بې وو داڅومه ورځ وه چي هغه، خواره کوتي تله راتله اوهرواريي منفي ځواب اوريده . نن خوله بوي خوارکښا والاهم په تکليف کړي وه اودبابوداخبره بې چي واوريده " خيرسباته بل ځوك راولېږه راشن به ورله ورکړم " نودبودي په زړو زخمونو مالګي دوړولي اوبه بوي دردناکه کريغي سره بې دخپل زړه غمونه اوارکړل . دتندي له خولوسره بې ډبوځاي دغبرګوستر ګرنه داوښکو سيلاب جاري شو اودبدن له خولوسره بې په تېر ليښتي ورجوړکړل هغې په ژړاغونې وبل چي " زه به سباځوك راولېږم ، باداام اوعزيزاحمد غبرګ ځامن خومي بواځي داته چي روسانواوپرچميانوشهيدان کړل دهغوي مړي بې هم په اوروسوځول . چي ديو موټې ايرونه پرته بل څه دهغوي ماوز ليدل . اوبوداخاوند خومي داشل شپږ دمخه بې کي دکارکولو په وخت جل ووانه اوله خپلوزامنو سره بوځاي شو اوس دي غم لړلي دنياکي بې زه دخپلو لمسيانوسره پريښودم . همداخوورځي چي راشن پسي راتلم دکرابې پيسې مي له ګاونډي نه پورکړي . نوزه نورله چاپيسي پورکړم چاته بې ووکړم اوځوك راولېږم ؟ همدانن بيګاه به دخپلو لمسيانو سره څه خورم ؟!

بودي همداووبل اوبيابې اختياره پرځمکه پريوته . لږشيبه خوڅوك نه ورنژدي کيدل ، بيادووکسو سپين ږيرو هغه په رکشاکي واچوله اوروغتون ته بې يوړله اوبه راشن پسي دلوړي بوږي بې په خاوروکي پرته پاتي شوه !

دوروړحکمتيارله خواد...

مينه لري خودالله (ج) په نزدکي داټانوي ورونستي شيان دي، ستره کامیابي داده چي ، څوك دخپل مال اونفس په قيمت دخداي (ج) په لاره کي وجنګيږي اوبه دي ترتيب الله (ج) هغه ته بهښته وکړي اوهغه دتل اوسيدوجنت ته داخل شي ، ددوزخ له عذاب نه وژغورلاي شي لويه کامیابي او فتحه همداده " ان الذين کفروا ينادون لمقت الله اکبرمن مقتکم انفسکم اذتدعون الي الايمان فتکفرون . يقيناً هغه کسان چي کافران شوي دوي ته به غږکيږي لمقت الله اکبرمن مقتکم . دالله بيزاري ستره ده ستاسي له بيزاري نه نن چي تاسو په خپلو نفسونو غوسه ياست ، کله چي کافران ددوزخ عذاب وګوري اوله خپل شوم انجام اوعاقبت سره مخامخ شي ، نوبرځان به سخت غوسه وي چي ولي هغوي دوکه شوي اوولي بې دکفر لارغوره کړه اوبرځان به لعنت اونفرين وايي له خپل ځان نه به بيزاره وي .

خوبه دغسي حالت کي به ملائکي هغوي ته غږکوي ، نن چي تاسوڅومره له خپلو نفسونو اوخپلو ځانونوبيزارياستي اوبرځان لعنت اونفرين واياست ، چي ولي موکفر اوسرکشي لارغوره کړه . ولي موبه الله (ج) ايمان رانه ووړاودپيغمبرانومخالفت مووکړ، په هغه ورځ چي تاسودايمان لوري ته بلل کيدئ ، تاسي کفرکاوه ددي په ځاي چي ايمان راوړي، انکار موکاوه هغه ورځ الله (ج) تردي زيات پرتاسي غوسه و، اوله تاسي بيزاره و " ان الذين کفروايناادون لمقت الله اکبرمن مقتکم انفسکم اذتد عون الي الايمان فتکفرون " کله چي تاسي دايمان لوري ته بلل کيدئ، خوتاسي ددي پرځاي چي ايمان راوړئ، انکار موکاوه کفرموغوره کاوه، هلته الله (ج) له تاسي نه تردي هم زيات بيزاره وتاسوچي نن له دي شوم عاقبت اوانجام سره اودخداي (ج) له عذاب سره مخامخ شوي ياستئ اوبرځان لعنت اونفرين واياست ، دخپل ځان نه بيزارياست اوبه ځان باندي لعنت اونفرين واياست چي ولي مودکفراوطغيان لاره غوره کړي وه " قالوا ربنا امتنااثنتين واحييتنا اثنتين فاعترفنا بذنوبنا فهل الي خروج من سبيل "

وايي به اي زموږ ربه موتردي دوه ځلي ووژلو اودوه ځلي دي ژوندي کړو دوه ځله مرګ اوژوندون دادي چي انسان دخاورويه شان نطفه څوالله (ج) ورته ژوندون ورکړ، بيابې دمرګ فيصله وکړه اوبيابې دقيامت پرورځ دوباره راژوندي کړ، دا دوه ځله مرګ اوژوندون همدغه دي . کافران چي دقيامت په ورځ داټول حقايق په سترګو ووېني ، چي له قيامت نه بې انکارکاوه ، له بعث بعدالموت نه منکروو، چي کله داپه سترګو وګوري بيابه وايي چي اي زموږ ربه ! موږدي دوه ځلي مړه کړواودوه ځلي دي راژوندي کړو" فاعترفنا بذنوبنا" اوس پرخپلو ګناهونواعتراف کوو " فهل الي خروج من سبيل " نوآياداتوکومه لارشته چي له دي ځايه نه هغوي وژغورلاي شي ، بيرته ددنيا طرف ته وګرځولي شي، صالح عمل وکړي، اوس هغوي په خپلو ګناهونو قانع دي، ګوري چي دقيامت په ورځ به هغوي دالله (ج) په وړاندي پرخپلو ګناهونو اعتراف کوي اوله دي حالت نه دوتلو لاربه لټوي، څولاري به ورباندي بندي وي، بيرته راتګ نشته اوهلته به نوري دوتلو ټولي لاري بندي وي .

" ذالکم بانه اذادعي الله ووحده ، کفرتم وان يشرك به تومنوا فالحکم الله العلي الکبير . داپه دي خاطره چي کله الله (ج) بوازي رابلل کيده ، چي کله بوازي دهغه ذکرکيده ، بوازي هغه ته دعاکيدله ، بوازي دهغه عبادت کيده ، کفرتم تاسوانکارکاوه " وان يشرك به تومنوا " اوچي له هغه سره به شرك کيدو، نوتاسي به ورباندي ايمان راووړ ، تاسي به دشرك پرلاايمان لاره . اوچي کله به الله (ج) بوازي رابلل کيده، نوتاسوبه دهغه په نسبت کفرکاوه ، په دي خاطراوس له دي انجام سره مخامخ شوي بې، چي اوس دوتلو لارنه لري ." بالحکم لله العلي الکبير" پس حکم . الله (ج) لره دي، چي اوچت اوستردي ، اوس فيصله دهغه الله (ج) په اختيارکي ده ، چي هغه اوچت اوهغه ستردي، په دنياکي خو تاسوله الله (ج) نه انکارکاوه ، اوتاسي لويې کوله دتکبراودلويې په وجه تاسوددعوت مخالفت کاو پرالله (ج) موايمان نه‌راوړ، دکفراودشرك لارموغوره کړي وه ، اوس حکم ټول دهغه الله (ج) په اختيار کي دي، چي اوچت اوستردي . " هوالذي يوريکم آيته وينزل لکم من السماء رزقا ، (الله) هغه ذات دي چي تاسوته خپل آياتونه ښيي، اوله آسمان نه تاسوته رزق نازلوي ، هغه الله (ج) چي تاسوته خپل آياتونه ښيي ، اوله آسمان نه تاسوته رزق نازلوي، هغه الله (ج) چي هم ستاسو معنوي پالنه او روزنه کوي کتاب رالېږي تاسوته خپل آياتونه ښيي اوهم ستاسو مادي روزنه کوي ستاسو درزق اودروزي انتظام کوي، له آسمان نه اوبه رااوروي ، له ځمکي نه ميوه داته راشنه کوي .

" هوالذي يريکم ايته " الله (ج) هغه ذات دي چي تاسوته خپل آياتونه ښيي . ګوري کتاب رالېږي پيغمبرمبعوث کوي، خپل آياتونه تاسوته ښيي ، ترڅوتاسوهدايت کړي، ستاسومعنوي روزنه کوي، ستاسو دلاربيوونې اوهدايت له پاره "ومايتذکرالامن ينيب "اوپندنه اخلي، مګرهغه څوك چي رجوع کوي، په چاکي چي انابت وي ، څوك چي دالله (ج) طرف ته درجوع کولو اراده لري، دغه کسان به له دي نه پنداخلي هغه څوك چي په هغه کي انابت نشته ، اوداالله (ج) طرف ته درجوع تلوسه نه لري اودااراده پکي نشته ، پس هغه دخداي (ج) له هدايت نه محروم دي ." فادعوا الله مخلصين له الدين ولوکره الکافرون " چي کله تاسوته داټول حقايق څرګندشول [illegible] عبادت اوپرستش وکړئ ، " مخلصين له الدين " خالص کړي خپل دين (دالله له پاره) يعني بوازي دهغه (ج) عبادت وکړي ، اودبل چاپروړاندي ستاسي سرنه ټيټيږي اوبوازي دهغه (ج) عبادت اوپرستش کوي، په داسي حال کي چي دخپل دين دهغه لپاره ناخالص کړي وي " ولوکره الکافرون " که څه هم کافران له دي نه کرکه لري، که داټبا ټول کافران له دي نه کرکجن وي اوته غواړي چي په اخلاص سره دي بوازي ديوخداي (ج) عبادت اوپرستش وشي، بوازي ديوالله (ج) ددين منته دي وشي ، که دټبا داټول کافران له دي نه کرکه هم لري، ته بايد بې پاکه اوبې پروابې اودالله (ج) عبادت اوپرستش وکړي اوخپل دين هغه لره خالص سوچه کړي . رفيع الدرجات ذوالعرش يلقي الروح من امره على من يشاء من عباده لينذريوم التلاق .

ددرجواوچتونکي، دعرش مالك ، خپله درازخبره (وحيي) هغه چاته رالېږي وعلي من يشاء من عباده " په چاباندي چي له خپلوبندګانونه بې وغواړي، " لينذريوم التلاق " ترڅو دادغه بنده دوحي ترلاسه کولونه وروسته وويروي ، دالله (ج) سره دملاقي کيدو له ورځي نه خلك وويروي . هغه الله (ج) چي ددرجوداوچتونکي دي داهغه په اختيارکي دي چي چاته رفعت ورکړي به هغه کتاب سره به الله (ج) قومونه اوچتوي

اوددولسونو عزت اودولت دهمدي کتاب په ايمان او انکاربوري تړلي دي ، چاچي پردي کتاب منګولي ولګولي پردي بې ايمان راوړ، خداي (ج) به دهغه درجي اوچتوي ، هغه ته به رفعت ورکوي، اوچاچي له دي نه انکاروکړ، هغه به خداي (ج) راټيټوي، تسکوروي له ذلت او رسوايي سره به بې مخامخوي . هغه چي دعرش مالك دي داهستي ټوله دهغه (ج) دعرش لاندي ده . ولته دهغه حکم نافذدي دلته دهغه واردادي په وړاندي څوك نشي ختورکيدلي خداي (ج) مالك الملك دي ددرجواوچتونکي دعرش مالك خداي (ج) خپله وحي رالېږي ، له خپلوبندګانونه چي چاته بې وغواړي ، ترڅودادغه بنده خلك له هغه ورځي نه وويروي چي دالله (ج) پروړاندي به دريږي اوله هغه سره به ملاقات کوي . يوم هم بارزون . هغه ورځ چي دوي به څرګندوي ، ټول به له خپلو قبرونه راوځي هرځوك به څرګند دخداي (ج) په وړاندي ودريږي " لايخفي على الله منهم شيئ " . " نه به پټيږي په الله (ج) باندي له دوي له هيڅ څه ددوي هيڅ څه به له الله (ج) له پټ نه وي، ټول عملونه به بې دالله (ج) په نزدڅرګندوي . که په پټه بې کړي وي که په ښکاره . که دشپي په تياره کي ترپردو لاندي هغوګناه کړي اودهرچادنظرنه پټه وي خوله الله (ج) نه به دهغوي هيڅ پټه نه وي دخداي (ج) په وړاندي به هغوي کاملا بربنډاوڅرګندوي

دمجاهدينو قوي عزم نه ...

کلني وربښتي مسئلي دحل وفصل اوبادحل ديوي معقولي لاري دپيداکولو په خاطر په اسلام آبادکي دري ورځني دري اړخيزه کنفرانس جوړکړي ؤ .

دغه کنفرانس دايران داسلامي جمهوريت دخارجه چارو وزير اکبرولايتي اودپاکستان داسلامي جمهوريت دخارجه چارو د وزارت جنرل سکرتري احمدذکي په پاکستان اوايران کي دجهادي تنظيمونو دمشرانو اونمايندګانو له خوا دامسد دمياشتي په ٤ نيټه جوړشوي و اوتر ۸ مي نيټي پوري بې دوام وکړ . پدغه کنفرانس کي دافغانانو په ځوريدلي اوکړيدلي حالت ، دمجاهدينو په زړورتيااوايمانداري، دنړيه دستروشيطاني ځواکونو دظلم او تيري ته په ميرانه دځواب ورکولو په درايت اوهغوي ته په نه تسليميدو سره دکنفرانس شاملو غړو مفصلي خبري اتري وکړي دغه رازپدي کنفرانس کي دملګروملتونو پنځه نقطه ايزه‌طرحه هم دوانئي شويده چي څه موده مخکي دسرمنشي کوئيار له خوا اعلان شوه ،

څرنګه چي دغه نيمګړي اودمجاهدينو دآرزوګانو مخالفه طرحه " پخوادجهادي تنظيمونو له خوا ردشوي ولي دايران اوپاکستان د حکومتونودنمايندګانو له خوا دزياتوهلوځلو په وجه سره پدي کنفرانس کي ځاي ورکړشو . ځکه داطرحه په همغه وخت کي دايران اوپاکستان دحکومتونودتائيدوړګرځيدلي وه . خوالله الحمد دملګروملتو داکاذبه طرحه پدي کنفرانس کي هم دمجاهدينو دشاملو غړوځواپه يوه اتحاداو يوغږسره رد او په کلي توګه بې دمنلو وړ ونه ګرځيده اودکنفرانس دټولو شاملو غړودګډي اعلاميي په خپريدوسره غيرعملي ، ناجائزه او دمجاهدولس دارمانونو سره مخالف عمل وګڼل شو . پدي کنفرانس کي دايران اوپاکستان دحکومتونو نمايندګان پدي حقيقت هم ډيرښه پوه شول چي دافغانستان مجاهد پروره اوشهيد پالونکي ملت [illegible] هيڅ صورت کي ئې منلوته تيارندي ، او تر څوداالحادي حکومت له منځه تللي نه وي نه به له جهادڅخه لاس واخلي ، نه به جهادي سنګرونه خالي کړي، نه به دسراومال له قرباني څخه په ويره کي شي اونه به ددوي دارادي اوټګ لاري مخالف عمل څوك سرته ورسولاي شي .

داسلام آباد کنفرانس دافغانستان دمومنو اوباتوروخلکو لپاره ډيرګټوراواغيزمن واقع شو ځکه له يوي خواټولو جهادي ځواکونو په ګډه سره کومه کاذبه طرحه چي دکفري ځواکونو دګډسازش په نتيجه کي دافغانانانو دمسئلي دحل کولو لپاره رامنځته شوي وه غيرعملي اوداسلام داصولوخلاف اعلان شوه ، له بلي خواکوم شبهات اوسوالونه چي مجاهدينو ته دايران داسلامي جمهوري حکومت ددي وروستيو وختونو دځينو عملونو داجراکيدو په نسبت پيداشوي و ، مثلا دايران اوروسي دحکومتونو ترمنځ نژدي اړيکي ، په [illegible] دملحدرژيم واکدارانو ته نقدي مرستولېږل، دزيات تشويش اوحيرت وړو ، ولي دغه شبهات اوسوالونه اوس داسلام آبادپه دري ورځني اودري اړخيزه کنفرانس کي بيا لګل رفع اوحل وفصل شول ، ځکه دکنفرانس په ختم کي دايران داسلامي جمهوري حکومت دخارجه چارو دوزير اکبرولايتي په لاس لېك سره ګډه اعلاميه چي پکي دکابل دفعلي ملحد حکومت له منځه وړل اوبرځاي بې دمجاهدينو په لاس ديو سوچه منتخب اسلامي حکومت جوړول، مهم اواساسي ټکي و خپره شوه . الله (ج) دي داګاونډي اسلامي هيوادونه اودنړي اسلامي هيوادونه زموږ سره دعمل په ډګرکي تل ملګري اوهم نظره ولري .
آمين

دورور حکمتیار له خوا د "مؤمن" سورت ترجمه اوتفسیر

وروورحکمتیار دالفتحي پرغونډکي دمحصلینو په تربیوي سیمینارکي ، ګڼون کوونکوته دقرآن عظیم الشان څوسوري تفسیرکړیدي ، دسیمینار په دویمه ورځ وروورحکمتیار دموءمن سورة تفسیرکړ چي دادي دشهادت دلوستونکودزیات معلومات لپاره یې خپروو .

وروورحکمتیار وویل : ددي سورة نوم ددي سورة ددي آیت څخه اخستل شوي چي الله فرمایي : "وقال رجل مومن من ال فرعون یکتم ایمانه ، اتقتلون رجلا ان یقول ربي الله وقدجاءکم بالبینات من ربکم".

اصل قصه داسي وه چي یووخت فرعون تصمیم نیسي چي موسي علیه السلام په قتل ورسوي هغه پدي هکله له خپلو درباریانو سره شوري ته کیني ، بالاخره تصمیم نیسي چي موسي (ع) په قتل ورسي، ددرباریانو له جملي نه یوکس چي په پټه یې ایمان راوړي و له موسي (ع) نه دفاع کوي ، تاسویه ددي سوري په وروستي آیاتونو کي داوګورئ چي هغه په څه شکل دموسي (ع) دفاع کوي، په یوآیت کي راځي . " وقال رجل مومن من آل فرعون یکتم ایمانه ، اتقتلون رجلا ان یقول ربي الله وقدجاءکم بالبینات من ربکم "

یوکس چي په پټه ئې ایمان راوړي ، خپل ایمان پټوي وي ویل چي آیاتاسوداسي یوځوك په قتل رسوئ ، چي وایي ستاسورب الله (ج) دي حال داچي تاسوته څرګنددلایل هم اوبینات هم راوړي، ددغه مومن بنده په نامه دغه سورة یادشو، داسورة د" زمره له سورة نه وروسته په مستقله توګه نازل شوي ، اویه داسي وخت کي نازل شوي وچي دمکي خلکو هم ددي اراده کړي چي دپیغمبر (ع) پرخلاف له یوي خوا هغوي جنجالي بحثونه پیل کړي اوپرمسلمانانو، دهغوي پر دین ، اودپیغمبرعلیه السلام پردعوت الزامات واردوي ، له بلي خواته خلك دهغوي پر خلاف تحریکوي، دپیغمبرعلیه السلام پرخلاف دقتل اراده کوي ، حتي عملا یوڅل داسي پیښه وشوه چي عتبه په داسي حال کي چي پیغمبرعلیه السلام په حرم کي پرلمانځه مصروف دي، راځي په غاړه کي یې څادراچوي ، تردي حده پوري ، چي نیږدي هغه په قتل ورسوي ، حضرت ابوبکرصدیق (رض) راځي اوهغه خلاصوي، په همدي وخت کي چي هغه له پیغمبرعلیه السلام نه دفاع کوي، دغه الفاظ دحضرت ابوبکر صدیق " رض " له خولي نه وځي . چي اتقتلون رجل ان یقول ربي الله . آیاتاسویه دي خاطر یوڅوك وژني چي هغه وائي زما رب الله (ج) دي . دمکي په دغسي حالاتوکي دامبارك سورة نازل شوي دي .

دغه سورة په دري حروفو " مقطعاتو" پیل شوي دمقطعاتوحروفو په هکله دعلماواومفسرینو ترمینځ زیات اختلاف دي، دجاهلیت په دوران کي دغه طریقه معمول وه چي، لیکوالانو اوشعراویه په خپلو مضامینوکي دمضمون په ابتداکي همدغسي حروف مقطعات لیکل ، هغوي ددي په معني اومقصد پوهیدل ، خووروسته وروسته چي له هغه ادب نه خلك لري شول، ددي مفهوم اومعني هم پرخلکوګرانه شوه ، په دي خاطر دعلماو ترمنځ مختلف آراء په دي باب وړاندي شوي ، ترکومه ځایه چي موږ تحقیق کړي، دمقطعاتو حروفو ربطه دسوري له مضامینوسره داسي دي چي کوم سورة چي په یوحرف پیل شوي معني یې داده چي په دي سورة کي دیوي موضوع په باب تفصیلي بحث شوي ، چي په دوو حروفو شروع شوي وي، لکه همدغه سورة معني یې داده چي هلته په دوو محوري اواساسي مسائلو باندي بحث شوي، که په دري حروفو شروع شوي وي ، همدامعني اوکه په پنځوشروع شوي وي نوهم ، داسورة ګورئ، چي پردووحروفوشروع شوي اودلته هم پردوو بنیادي اواساسي مسائلو باندي بحث شوي ، دامسائل په آخري آیت کي په اختصارسره راغلي، ګویاددي سورة موجزاومختصرمطالب دسورة په آخري آیت کي چیرته چي الله (ج) فرمایي :

"فلم یك ینفعهم ایمانهم لماراوباسناسنت الله التي قدخلت في عباده خسر هنالك الکافرون " پس نه وایمان ددوي چي دوي ته ګټه ورسوي ، کله یې چي زموږ عذاب ولیدو، داالله (ج) سنت دي، چي دهغه په بنده ګانو کي دمخه تیرشوي .

اوکافران هلته خاسراوتاواني شوي تاسویه ددي سورة په جریان کي وګورئ چي په همدغومطالبو باندي په څه شکل بحث شوي، کله چي داسورة نازلیږي ، دمکي قریش په څودلوویشل شوي، یوه هغه چي دپیغمبر علیه السلام ددعوت دمخالفت له پاره ملاتړلي ده ، تردي حده چي دپیغمبرعلیه السلام دقتل اراده کوي، بله هغه ډله چي ایمان ئې راوړي اوستونزو، کړاوونو اوابتلاګانو سره مخامخ ده هریوې په هرګوښه کي دتعذیب او شکنجي لاندي دي، دریمه ډله هغه یې طرفه ارتماشایي ده اودځنی نظاره کوي، نه دپیغمبرعلیه السلام ملګرتیاکوي ، له دي ویري چي مباداوي هم له ابتلاء سره مخامخ شي ، اودمومنانو په شان دشکنجي اوعذابونو سره مخامخ نشي اونه هم په څرګندطورمخالفت کوي ، په دي خاطرچي څه ناڅه په دي متیقن شوي چي پیغمبرعلیه السلام په حقه او په خپل دعوت کي ریښتني دي اودادمکي قریش چي دهغه (ص) پرخلاف کوم ظلم کوي، دایه ناحقه دي ، ولي دویري په وجه هغوي دي ته تیارنه دي، چي دپیغمبرعلیه السلام په څنګ کي ودریږي اوخپل ایمان څرګندکړي له شکنجي ، دعذاب ، مصیبتونو او ابتلاګانو له ویري هغوي دغسي حالت غوره کړي، په دي سورة کي به تاسي وګورئ، چي له یوې خوانه دقریشو ستاذید دي ته متوجه کوي چي وګورئ په تیره زمانه کي هم دپیغمبرانو مخالفت شوي .

> **په هغه چاکي چي اثابت نشته ، اودالله (ج) لورته درجوع تلوسه نه لري هغه دخداي (ج) له هدایت نه محروم دي .**

خودهغوي انجام ته وګورئ، چي له کوم عاقبت اوشوم انجام سره مخامخ شوي، دفرعون داستان داسي دي، اوددوي دي متوجه کوي، چي فرعون همدغسي کبروکړاودخپلي لویي دبقا له پاره یې دموسي علیه السلام مخالفت ته ملاوتړله ، خوبالاخره دهغه تخت اوتاج نسکورشو او له شوم عاقبت سره مخامخ شو، مومنان دي ته متوجه کوي چي باید صبروکړي او مبادادي مصیبتونو، ابتلاګانوپروړاندي ستاسو حوصله ختمه شي، وروستي فتحه ستاسو ده ، دادي وګورئ چي په تاریخ کي هم چادپیغمبرانو ملګرتیا کړي اویه الله (ج) یې ایمان راوړي ، آخري فتحه دهغوي ده ، هغوي هم متوجه کوي، همداراز هغه کسان هم متوجه کوي، چي له ویري اوابتلاګانو او مصیبتونو سره ددي مخامخ کیدوپه خاطر یې طرفه پاته دي . هغوي متوجه کوي، چي ګوري دفرعون په دربار کي یوڅوك پرالله (ج) بروسه کوي اویه جرئت سره له حق نه ددفاع له پاره ملاتړي، ددي پروانه ساتي چي هغه به له مصیبتونو سره مخامخ شي تاسي ته هم په کاردي چي همدغسي رویه اختیارکړي .

"تنزیل الکتاب من الله العزیز العلیم " دکتاب رالیږل دعزیز علیم الله (ج) له لوري دغه کتاب هغه الله (ج) رالیږلي چي عزیزدي اوعلیم دي . په دي کتاب کي چي کومي وعدي شوي هغه به خامخا تحقق مومي، لکه عزیز خداي (ج) دخپلو وعدو په ترسره کولو قادردي اودهغه دوعدو دتحقق مخه څوك نشي نیولي ، دادغالب خداي (ج) وعدي دي .

نوخامخا به هغه تحقق مومي ، باید ډاډه اومطمئن وي، له دي ناحیي نه تشویش ونلري اویه دي کتاب کي چي کافرانوته کوم وعیدمتوجه دي، هغه به خامخا ترسره کیږي، دوي به خامخا له هغه انجام سره مخامخ کیږي، هیڅ څوك نشي کولاي چي ددي وعید دتحقق مخه ونیسي، ځکه دادعزیزاوغالب خداي (ج) وعیددي . داکتاب هغه ذات (ج) رالیږلي ، چي عزیزدي ، په دي کتاب کي چي کومي فیصلي شوي، هغه به خامخا ترسره کیږي،

> **په دي ترتیب تاسوډاډه اومطمئن اوسي، اودکافرانو داظاهري اوغولوونکي حالت موباید دوکه نه کړي ، چي شاید دهغوي لارغوره ده .**

ددغه کتاب دفیصلو دتحقق اوترسره کیدومخنیوي هیڅوك نشي کولاي، ځکه دا دعزیز خداي (ج) کتاب دي اوهغه علیم دي، داکتاب ټول پرعلم مبتني دي اوهغه الله (ج) چي په ټولو حقایقو پوه دي، هرڅه هغه ته څرګنددي ، دځمکي او آسمانونو هیڅ له هغه (ج) نه پټ نه دي، دهرڅه په باب علم لري. داکتاب دغسي پرعلیم اوپوه ذات رالیږلي، له یوې خوامسلمانان دي ته متوجه کوي چي بس ددي کتاب هره فیصله دهغه علیم خداي (ج) پروسیع، جامع او شامل علم مبتني ده اوله بلي خواکوم الله (ج) چي داکتاب رالیږلي هغه یوعزیزدي اودخپلو فیصلو پرتحقق قادردي، هغه به خپلي وعدي ترسره کوي اوهغه چي کوم وعیدددي کتاب مخالفینو ، کافرانو، ظالمانو اوستمګرانو ته متوجه کړي هغه به خامخا تحقق مومي. غافرالذنب وقابل التوب شدیدالعقاب ذي الطول "

دګناهونو بښونکي دتوبي منونکي اوشدید العقاب چي سخت عقوبت ورکوي، دهغه عذاب هم شدید دي ذي الطول اودتوانایي خاوند هغه چي نعمتونه یې پراخ دي ، اووسیع قدرت لري اوهمیشه پرخپلو بندګانو احسان اوپیرزوینه کوي دوسیع قدرت او وسعت خاوند دي . داکتاب هغه ذات رالیږلي چي دګناهونو بښونکي دي ، ددي له پاره چي بندګان دګناه او عصیان نه لاس واخلي، دخداي(ج) طرف ته رجوع وکړي دادهغه ذات (ج) له خوانه رالیږل شوي کتاب دي، هغه په دي ترتیب قریش دي ته متوجه کوي چي که تاسو دګناهونو نه لاس واخلي دخداي (ج) طرف ته رجوع وکړي نوهغه غافرالذنب دي دګناهونو بښونکي دي، وقابل التوب اودتوبي منونکي دي، هغه همیشه دتوبي دروازه خلاصه پریښي ، چي په هروخت کي انسان وغواړي چي دطغیان ، شرك ، کفر ، ظلم ، هري مرحلي ته رسیدلي وي، که هغه وغواړي دالله (ج) طرف ته رجوع وکړي، دتوبي دروازه به خپلي مخي ته خلاصه ویني ، الله (ج) خپل ګناه ګاربنده په توبه ترهرڅه زیات خوشحالیږي ، په حدیث مبارك کي راځي چي الله (ج) خپل هغه بنده چي ګمراه شوي او له طغیان اوسرکشي نه لاس اخلي اود خداي (ج) طرف ته رجوع کوي دومره خوشحالیږي ، چي ترڅو ته هم زیات لکه یوسټاسوچي په یوه لویه دښته اوصحراکي روان دي اودخوراك څښاك شیان یې پرخپله سپرلۍ بارکړي ، ناڅاپي له یوې ونې لاندي ویده کیږي، سپرلۍ تري یې درکه کیږي . هغه چي راپورته کیږي ګوري چي دهغه سپرلۍ له پاره سره لادرکه ده ، هري خواته لاس اوپښي وهي، څه په لاس نه ورځي، کاملا مایوس اوناامیده دي . بیرته دوني سیوري ته راګرځي، اونورهیڅ امیداوهیله نه لري، نوګمان کوي چي بس په دي ترتیب مري، اودوني سیوري لاندي یې سترګي پټیږي ، چي سترګي خلاصوي

> **په تاریخ کي چي چا د پیغمبرانو ملګرتیا کړي، اویه الله (ج) یې ایمان راوړي ، اخري فتحه دهغوي ده .**

ګوري چي سپرلۍ یې مخي ته له زادراسره ولاړه ده ، اوله زیاتي خوشحالي نه وایي ، خوله یې غلطیږي او وایي چي اي الله (ج) ته مي بنده اوزه دي خداي یم ، له زیاتي خوشحالي نه یې خوله غلطیږي اوهمدغه وایي چي ته مي بنده یې اوزه دي خداي یم ، الله (ج) دخپل هغه بنده چي لاریې ورکه کړي اوبیرته خداي (ج) طرف ته رجوع اوتوبه کوي، له ګناه اوعصیان نه لاس اخلي تردغه بنده هم چي دخپلي راحلي پریباموندلو دومره خوشحاله شوي زیات خوشحالیږي . شدید العقاب . سخت عقوبت اوعذاب ورکوونکي، څوك چي د طغیان لارغوره کړي له کتاب سره مخالفت ته ملاوتړي ، هغه دي مطمئن اوډاډه وي، چي خامخا به دشدید العقاب خداي (ج) له سخت عذاب سره مخامخ کیږي . خوکه چاایمان راوړ اوپردي کتاب یې تمسك وکړ، نه یوازي داچي عزیز اوعلیم خداي (ج) به دهغه مرسته کوي اودهغه ګناهونه به بښي، دهغه توبه به قبلوي، بلکي خپل وسیع پیرزوینه رحمت او نعمات به دهغه پرحال شاملوي، ځکه هغه "ذي الطول" دي ، دوسعت ، پراخي او دقدرت خاوندوي ، هغه (ج) پرخپلو بندګانو پیروزوینه لري، یعني چاچي په دي کتاب تمسك وکړ، عزیزخداي (ج) به دهغه مرسته کوي اوهغه چي هره فیصله کوي دهغه فیصله به پرعلم مبتني وي، لکه چي پیغمبرعلیه السلام فرمایي چاچي په دي کتاب تمسك وکړ، ګمراه به نه شي چاچي پردي حکم ، قضاوت او عدل وکړ اوچاچي پري منګلي ولګولي . پرداسي یودست آویزني منګلي ولګولي چي هغه الهي کتاب دي چاچي دلویي په وجه له دي نه انکاروکړ نوالله (ج) به هغه مات کړي، دهغه دکبر کاسه به نسکوره کړي، دادتیروقومونو داستان دي، چي دهغوي عاقبت اوانجام په ګوته کوي اودراتلونکو قومونو له پاره هم خبردي، دهغوي حالاتو نه تاسو خبروي، هرڅوك چي په ژوند کي کومه لاراتنخابوي، الله (ج) په دي کتاب کي دهغه انجام اوعاقبت ورته ښیي ، چي له کوم انجام اونصیب سره به مخامخ کیږي ، نوچاچي په دي کتاب منګولي ولګولي ، عزیز خداي (ج) به دهغه مرسته کوي اوهغه به دجهل اوګمراهۍ نه ژغورل کیږي اوغافر الذنب خداي (ج) به دهغه ګناهونه ورته بښي اودتوبي دروازه به خپلي مخي ته خلاصه مومي اوچاچي ددي مخالفت وکړ، هغه به دالله (ج) له شدیدعقاب سره مخامخ کیږي اوچي په دي کتاب باندي چامنګلي ولګولي ، له وسعت اوفراخي سره به مخامخ کیږي ، ذي الطول خداي (ج) به پیرزوینه اونعمات دهغه په حال شاملوي . لااله الاهوالله (ج) پرته بل الله نشته ، له الله پرته بل دعبادت وړمعبود نشته ، داسي څوك چي دهغه عبادت دي وشي اودهغه سره دي په الوهیت اوربوبیت کي شریك وي ، بل دغسي څوك نشته .

تاسوګوري چي لومړي بل هراله نفي کوي، په دي هستي کي داسي څوك چي دعبادت وړدي نشته ، مګریوالله(ج) یوازي هغه ددي وړدي، چي پرستش اوعبادت یې وشي، ددعاله پاره دي هغه ته لاسونه اوچتیږي اودهغه (ج) عبادت اوپرستش دي وشي الیه المصیر اودهغه (ج) طرف ته بیرته ګرځیدل دي په پاي کي به ټول دالله (ج) طرف ته دروسي ، که چادکفر ، ظلم ، شرك او طغیان لارغوره کړه، هغه به هم خامخاکه وغواړي که ونه غواړي دخداي (ج) طرف ته دروسي ، اوکه چادایمان لاراختیارکړه هغه به هم دالله (ج) په وړاندي ودریږي دهغه طرف ته به دروسي پس عاقبت، انجام اوبازګشت دالله (ج) طرف ته دي . "مایجادل في آیات الله الاالذین کفروافلایغررك تقلبهم في البلاد " دالله (ج) په آیاتونوکي مجادله نه کوي، مګرهغه کسان چي کافران شوي، فقط هغه څوك چي دحق نه منکردي اوددي فیصله یې کړي چي دحق نه دانکارلاره اختیارکړي صرف دوي به دخداي (ج) په آیاتونو کي مجادله کوي . مایجادل في آیات الله الاالذین کفروافلایغررك تقلبهم في البلاد . پس تاسي دوکه نکړي دهغوي تګ راتګ په ښارونوکي ، داچي دتمدن خاوندان دي اوسترو ، ستروښارونوکي تګ راتګ کوي اومصروف دي ددوي داتګ راتګ اوتجمع دادي ددي باعث نشي چي تادوکه کړي ته دهغوي په هکله دوکه شي . ګمان وکړي چي له دوي نه به څه جوړیږي ، داددوي ظاهري تمدن دهغوي ظاهري وضع دهغوي کثرت اویه ښارونوکي تګ راتګ مباداداستاسي په زړونوکي تشویش ایجادنه کړي اوتادوکه نه کړي ځکه چي کله انسان دکافرانو داظاهري مرفه حالت ګوري کیداي شي، دسطحي نظریه خاوندانو کي داتشویش راپیداکړي، چي شاید دهغوي طریقه غوره ده ، چي دهغوي ظاهري حالت دغسي بهتردي، ، خوالله (ج) فرمایي چي مباداپه ښارونوکي دهغوي داتګ راتګ اودهغوي داظاهري کیفیت اوحالت تادوکه نه کړي ، دهغوي انجام خامخا همغه شدید عقاب دي چي الله (ج) دهغوي په باب فیصله کړي اوددوي داظاهري په ښارونوکي تګ راتګ اوتجمع دوي له هغه شدید عقاب نه نشي ژغورلاي ، الله (ج) دهمدغه حقیقت له پاره څه تاریخي مثالونه په ګوته کوي تاریخ ته رجوع وکړئ ، وګورئ هغوقومونوچي دپیغمبرانو دمخالفت لاریې غوره کړي ، دهغوي انجام څه و " کذبت قبلهم قوم نوح والاحزاب من بعدهم وهمت کل امة برسولهم لیاخذوه وجادلوا بالباطل لیدحضوا به الحق فاخذتهم فکیف کان عقاب " له دوي نه دمخه دنوح علیه السلام قوم اونوروډیرو ډلو دتکذیب لارغوره کړه ، هغوي هم دالله (ج) دپیغمبرانو مخالفت وکړ، دهغوي دعوت یې تکذیب کړ. "وهمت کل امة برسولهم" اوهري ولي اوهرامت قصدوکړدخپل پیغمبرپه باب چي هغه ونیسي اوماخذه یې کړي اویه باطل سره یې مجادله وکړه ترڅوحق له پښوواچوي فاخذتهم ، نوماهغوي نیول ، وګورئ دوي هم دتکذیب لارغوره کړي اودپیغمبرانو مخالفت یې کړي اودحق مقابلي ته پورته شوي، غوښتلي یې دي، چي حق له پښوواچوي خوپه پاي کي الله (ج) هغوي نیولي دالله (ج) عذاب پرهغوي نازل شوي. فکیف کان عقاب نوڅنګه وه زمانیونه اوعقوبت ، دتاریخ پاڼي واړوئ اودتیروقومونو انجام ته وګورئ هغوي هم دحق مقابله کوله اودحق دعوت تکذیب یې کړي اودپیغمبرانومخالفت له پاره یې ملاتړلي، ولي په پاي کي الله (ج) هغوي نیولي، دخداي (ج) عذاب پرهغوي نازل شوي وګورئ چي خداي (ج) عقاب څنګه دي، دخداي عذاب څنګه دي، په دي ترتیب باید تاسوډاډه اومطمئن اوسئ، اودکافرانو داظاهري غولوونکي حالت تاسي دوکه نه کړئ او مباداپه تاسوکي داتشویش راپیداشي ، چي دهغوي لارشاید غوره وي، چي دهغوي ظاهري حالت دغسي غولوونکي دي، وکذالك حقت کلمت ربك علي الذین کفروااِنهم اصحاب النار، دغه خوچي په دنیاکي په هغوي باندي دالله(ج) عقاب اوعذاب نازل شوي او له تباهۍ اوبربادۍ سره مخامخ شوي، چي دهغوي له پاره دآخرت داورعذاب هم منتظردي وکذالك اوهمدا

> **په همدغه کتاب (قرآن) سره به الله (ج) قومونه اوچتوي اودولسونو عزت اوذلت دهمدي کتاب په ایمان اوانکار پوري تړلي دي .**

راز حقت کلمة ربك ، محقق شوه دادالله (ج)دحکم کلمه ، علي الذین کفروا ، پرهغوکسانو چي دکفرلاره یې غوره کړي . انهم اصحاب النار، دادوي ددوزخ اهل دي، په پاي کي به هغوي په دوزخ کي پریووزي ، دهغوي په باب دافیصله شوي چاچي دکفرلارغوره کړي په پاي کي به په دوزخ کي سقوط کوي، په دوزخ کي به پریوزي ، په دنیاکي هم دهغوي انجام همغه دي اویه آخرت کي هم . " الذین یحملون العرش ومن حوله یسبحون بحمد ربهم ویومنون به ، ویستغفرون للذین امنواربنا وسعت کل شي رحمة وعلما فاغفرالذین تابوا واتبعوا سبیلك وقهم عذاب الجحیم . الذین یحملون العرش . هغه څوك چي عرش حمل کوي، هغه ملائکي چي دعرش حمله دي، ومن حوله اوهغه چي دعرش په ماحول کي دي، دعرش چاپیره اوسیږي ، دالله (ج) په عبادت اوبندګي اودهغه داوامرو په تنفیذکي مصروفي دي . یسبحون بحمد ربهم . تسبیح کوي دخپل رب له ستاینې سره ، ویومنون به اوپرهغه ایمان لري ویستغفرون للذین امنوا. اوطلب دبښني اومغفرت کوي دهغوله پاره چي ایمان یې راوړي، مومنانوته په دي سره اطمینان ورکوي چي تاسویوازي نه یاست ، بلکي دالله (ج) دعرش حمله اوهغه مقربي ملائکي چي دهغه په تسبیح اوتحمیدلګیادي ، دهغه داوامر و تنفیذ کوي مدبرات امردي، ددي هستي دټولو امورو تدبیرهغه کوي .

ددغو ملائکوهم لار، اوخط له مومنانو سره یودي ، هغوي هم په الله (ج) ایمان لري هغوي هم دخداي (ج) په عبادت اوبندګي کي مصروف دي، اوګوري چي دهغوي دلسوزي اوهمدردي له مومنانو سره واړه چي دالله (ج) په درګاه کي همیشه دوي ته بښنه غواړي . ویستغفرون للذین امنوا . دمومنانو له پاره دبښني اومغفرت غوښتنه کوي په دي ترتیب مومنان دي ته متوجه کوي چي تاسي یوازي نه یاست ، بلکي ددي هستي هرڅه تاسوسره دي دالله دعرش حمله ملائکي دهغه عرش شاوخواته چاپیرمقرب ملائکي هم ګوري چي دمومنانو سره ئي لاره یوه ده ، هغوي هم پرالله (ج) ایمان لري هغوي هم دالله (ج) په حمداوتسبیح مصروف دي اودمومنانو له پاره بښنه غواړي. داهستي دالله (ج) دعرش تراقتدارلاندي ده ، دلته دهغه حکم نافذدي، دلته هرڅه دهغه په اراده کیږي اوتدبیرداامورو دهغه په اختیارکي دي، داهستي دهغه ملك دي اوهغه یې مالك الملك اوددي هستي هغه کارکونکي (مدبرات امر) څوك چي ددي امورتدبیرکوي، دالله (ج) دعرش حمله اودعرش په ماحول کي دهغه مقربي ملائکي داټول دمومنانو په څنګ کي دي ، مومنان باید له دي نه ډاډه اومطمئن وي ، چي هغوي یوازي نه دي، په دي خاطر هغه دکافرانو په ښارونوکي داتګ راتګ په دوکه نکړي اومطمئن وي چي الله (ج) به دوي ته فتحه ورکوي اودکافرانو انجام وخیم اوخطرناك دي، ربنا وسعت کل شي رحمة وعلما. اي زموږ ربه پرهرڅه باندي په خپل رحمت اوعلم سره تااحاطه کړي، پرهرڅه واقف ، هرڅه تاته څرګند دي اوستارحمت خوراوسیع دي، پرټوله هستي باندي تااحاطه کړي ته چي دوسیع رحمت خاوندیې اوستاعلم پرهرڅه شامل محیط دي ، فاغفرللذین تابوا واتبعوا سبیلك . نوبښنه وکړه هغه کسانوله چي توبه یې وکړه اوستادلاري متابعت یې وکړ . ته پردي ښه پوهیږي ، چي چاتوبه کړي اودچاطرف ته یې رجوع کړي تاته داټول څرګندي چي چاستادلاري متابعت کړي ، ته چي دوسیع علم خاوندیې پرهغوکسانوچي توبه یې کړي اوستادلاري متابعت یې کړي ته پرهغویاندي خپل وسیع رحمت شامل کړي، خپله پیرزوینه دهغوي په حال شامله کړي . وقهم عذاب الجحیم .

اوهغوي ددوزخ له عذاب نه وژغوري ، چاچي توبه وکړه اودالله (ج) دلاري متابعت یې وکړي طبیعي ده چي ددوزخ داورنه هم ژغورل کیږي . ولي دا چي دتوبي اودالله (ج) دلاري دمتابعت ترڅنګ څنګ ملائکي ددي دعاکوي چي هغوي دجهنم له عذاب نه وژغوره ، داملائکو ډېره دلسوزي اوهمدردي دمومنانو په نسبت ښیي ، په تکرارسره دالله (ج) په دربارکي دعاکوي، چي الهي خپل وسیع رحمت ددغو مومنانو په حال شامل کړي، چي توبه یې کړې اوستادلاري متابعت یې کړي اوته هغوي ددوزخ له عذاب نه وژغوري ، ربناوادخلهم جنت عدن التي وعدتهم . اي زموږ پروردګاره ! اي زموږربه ! دوي داخل کړي هغه جنت ته چي همیشه اوتل هلته اوسیږي، التي وعدتهم ، هغه چي تاله هغوي سره له دوي سره وعده کړیده ، دهغه جنت وعده یې تاورسره کړي، ددي اوسیدلو په دائمي اقامت ګاه کي هغوي داخل کړي ومن صلح من اباءهم اوڅوك چي نیکوکاران شول له دوي نه ، له پلرونو ، له ښځو اوله ځامنوڅخه ، دهغوي پلرونه ، ښځي اوځامن هم چي دصلاح لاریې غوره کړي اوصالح عمل یې اختیارکړي دوي هم له هغوسره یوځاي شامل کړي، چي سترګي یې وریاندي سړي وي اوخپل خپلوان یې هم دهغوي سره په جنت کي یوځاي اوسي . انك انت العزیزالحکیم . بیشکه همداته عزیزاوحکیم یې ، ته په دي قادریې چي خپل وسیع رحمت دهغوي په حال شامل کړي اوجنت کي هغوي داخل کړي اوستاپه هره فیصله کي حکمت دي ته حکیم یې، ته دخپلو فیصلوپه ترسره کولو هم غالب یې ، حکیم یې ، پردي پوهیږي چي څنګه خپلي فیصلي رښتوني کړي، " انك انت العزیز الحکیم " یقینا ته عزیز اوحکیم یې . په قرآن عظیم الشان کي اکثراً عزیزاوحکیم ، عزیز اوعلیم څنګ په څنګ راغلي، ددي له پاره چي دقوت اوغلبي اوعزت سره حکمت اوعلم هم لازم دي، اوڅوك چي قوت لري، قدرت لري، خوله حکمت، علم اوپوهي نه محروم دي دهغه قدرت به په فسادمنتهي کیږي .

اوڅوك چي یوازي پوهه اوعلم لري، خوقوت ورسره نشته ، دهغه دایوازي پوهه او علم اوحکمت له هغه نه یو رهبان جوړوي شي ، خوداچي هغه وکولاي شي ، څه اثرولري، کوم نقش پرغاړه واخلي ، خپل رول اداکړي، له دي نه به ناتوان اوعاجزوي، همداوجه ده چي ګوري عزیزاوحکیم په قرآن عظیم الشان کي څنګ په څنګ راځي، خداي (ج) هم عزیز اوغالب دي اوهم حکیم دي . وقهم السیئات اوددوي له سیئاتونه وساتي، له خرابي عقیدي ، له فساداوبدکاري نه، له بدعمل نه اوله مصیبتونونه ، دوزخ له عذاب نه ، له دغه ټولو بدیو نه هغوي وژغوري . ملائکي دالله (ج) په دربار کي دمومنانو له پاره دعاکوي چي یاالهي ته له ټولو سیئاتونه هغوي وساتي که ستا په ژوند کي عقیدوي فسادوي دعمل بدکاري او فسادوي ، که ددوزخ عذاب وي، یایه دنیاکي دمصیبتونو، دابتلاګانو سره مخامخ کیدل وي، الله (ج) ته داسي دعاکوي چي ته له دي ټولوسیئاتونه هغوي وژغوري .

ومن تق السیئات یومئذفقدرحمته اوهر هغه څوك چي ته یې له سیئاتونه په دي ورځ وساتي ، دقیامت پرورځ هغوي له سیئاتونه وساتي ، فقدرحمته نویقینا چي تاپرهغه پیرزوینه کړي، تاخپل رحمت دهغه په حال شامل کړي وذالك هوالفوز العظیم اوهمدا لویه پیروزینه اولویه کامیابي ده ، قرآن عظیم الشان کي ځاي، ځاي راځي چي ستره پیروزینه اولویه کامیابي ده ، قرآن عظیم الشان کي ځاي، ځاي راځي چي ستره پیروزینه داده چي څوك ددوزخ له اوراوعذاب نه وژغورل شي اویه جنت کي داخل کړاي شي او اصلي فتحه اوبري همداده داچي ته دالله (ج) له عذاب او دوزخ له اورنه وژغورل شي، اویه جنت کي داخل شي نوستره پیروزینه همداده ، په دنیاکي پردښمنانو برلاسي کیدل دي ضمني فتحه ګڼي . " واخري تحبونها نصرمن الله وفتح قریب " اوضمني ، ثانوي اوبعدي شي چي تاسو ورسره مینه لري هغه دالله (ج) له طرف نه تائید اونیږدي فتحه ده ، تاسوله دي سره

(۴) مخ

مدینه آرماني مجاهدین (حکومت اسلامي)

حزب کمونیزم میباشد تاقابل قبول غرب ګردیده واعتماد آنهارابدین ترتیب حاصل بدارد .به همین اساس بوده است که احزاب دیوکرات و لیبرال ازرده هاي بالاي حزب کمونست تشکیل ومالکیت خصوصي باري دیګر به ثمره نشسته و عمرتك حزبي درداخل روسیه به پایان رسید .

ورري همین دلایلي که ارمغان کمونیزم جزوحشت وترور وجنګ ودود وباروت وآهن وآتش براي بشریت نبوده ، احزاب کمونیستي درکشورهاي اروپاي شرقي یکي بعددیګر ازکرسي اقتداربه زیرغلتیدوجمهوریت هاي تحت اسارت روسیه علم آزادي خواهي بلند نموده اند تا اززیرسیطره این مکتب وحشت وبربریت نجات حاصل نمایند .

قیام علیه کمونیزم بودکه " ورشو " موجودیتش رادرصحنه سیاسي وعسکري بدون اضمحلال پیمان " ناتو" ازدست داد وعملا مضمحل ګردید .

ګفته مي توانیم ان شاء الله آن روزدورنخواهد بودکه جهان شاهد دفن امپراطوري ستمګرروسیه که در لبه ګورنزدیك ګردیده است باشد .

ازسوي دیګر افتخاراتي که امروزنصیب ملت مجاهدما ګردیده است ، نتیجه صبر، استقامت ، پایمردي وتلاش مستمر همه اقشارملت اعم از ازبك وهزاره ، تاجك ، وپشتوبلوچ ... هراتي وقندهاري ومزاري وکابلي ... شمالي وجنوبي ومشرقي ... بدون استثنا بوده است .

زیرا عقیده وایمان همه طبقات واقشارملت راباهم پیوند زد و باعث حرکت جوشان اسلامي درکشورګردید که رمز پیروزي ملت نیزدرهمین جانهفته است .

ازآنجاییکه استکبارجهاني به سردمداري امپریالیزم سیاه امریکا، رمز حقیقي پیروزي " وحدت هدف " ملت مومن وجهادګرمارا درك کرده وازین ناحیه احساس خوف دارد، درصدداست تااین " رمز " را ازمیان ملت مابردارد . بناء درین روزها به شیوه جدیدي دست برده وازطریق بنګاه خبري ووسایل جمعي خویش صحبت ازاقلیت ها واکثریت ها ، زبان ها واقوام ... درین ملت دارد تاازین طریق شګاف دیګري درین ملت مایمان آورده ، باعث بروزاختلافات شدیدلساني، منطقوي ، مذهبي وقومي ګردیده باشد . بدین وسیله افغانستان راپارچه پارچه نموده ، جلوتحقیق نظام نیرومند اسلامي را درمیهن عزیز ماکه ان شاء الله آینده آن ازاسلام است ، ګرفته باشد .

متاسفانه درین راستا بعضي ازکوتاه نظران سست عنصر زیرتبلیغات استکبار قرارګرفته ، راهي راکه جلو شان ترسیم نموده است میروند .

من به داعیان حکومت اسلامي هوشدارمي دهم ، به آرمان رسیدن به مدینه یي که ملت این قرباني عظیم راپذیرفته است راهي به جز پیمودن نقش قدم آنانیکه مدینه آرماني را ازنظردرعمل پیاده نموده اند، سراغ شده نمي تواند وهرنکردیګري مانشته لبان رابجاي آب به سراب خواهد کشانید که آرمان استکبار مي باشد .

نبوي ارشاد

له حضرت خولة انصاري رضي الله عنها څخه روايت دي ، هغه وايي له رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه مي واوريدل چي فرمايل يي : يقيناً چي ځيني سړي په ناحقه دخداي په مال کي ورننوځي (په ناحقه غنيمت خوري) دي خلکو لره دقيامت په ورځ اور دي

بخاري

مشکوة

دګوډاګي رژيم وروستني ديپلوماتيکي ماتي

جهادته وګورو، ټوله ورايه ښکاري ، چي نړيوال کفرڅه ډول دمجاهدينو داسلامي حکومت دمخنيوي اودکابل دلاسپوځي رژيم دبقا ناکامي هلي ځلي ګالي . دملګروملتونو دسياسي حل پروګرام اوبدي باب ورته له حده زيات پروپاګند اوتبليغ .

اوهمداراز له بېلابېلو لاروچارونه دمجاهدينو اغفال ، اوياد مجاهدينو د ورځ په ورځ مخ په زياتيدونکو پوځي سوبونه دنړي پام بل خواکول، اوپه څه نه څه شکل دپراخ بنسټيز حکومت دجوړښت لپاره ځمکه هوارول، چي دالقانانوسترقاتل نجيب به هم پکي له لويديزوقرارپانواو عياشانو سره برخه لري، دښکيلاکي ځواکونو داسلام دښمني پرله پسي زيارډي . دسياسي حل ددسيسي په ناکامي پسي جوخت دګوډاګي رژيم ستره هيله داسلامي هيوادونو دبهرنيوچارو دوزيرانوپه کلني غونډه کي دهغوي دنمايندګي مسئله وه ، چي دښکيلاکګروپادارانو په مرسته ورته په ټمه وو. خو هغه هم دمجاهدينو نړيوال رعب اوحيثيت دړي وړي کړه . که څه هم دېوه ځواکمن حکومت دنشتوالي له امله مجاهدين په بين الاسلامي ډګر له څه ستونزو سره مخ دي خوبياهم دېونيم مليون شهيدانو داسترالتخارګټونکي دنړيوال کفر له چلوټو سره سره پدي وتوانيدل، چي په اسلامي هيوادونوکي خپل دريځ ثابت وساتي ، اوبدي توګه بي دوروستي ځل لپاره دنجيب غلام رژيم ته په ديپلوماتيکه ساحه کي هم پوره بده اوشرميدلي ماته ورکړه ، دملګروملتونو دسياسي حل له ورانديز وروسته چي هماغه دروس اوامريکا په تبه شوي پروګرام و . داسلامي هيوادونو دجرګي په باب لاسپوځي حکومت فکرکاو، چي ګوندي دهغه دمکروه وجود دقانونيت لپاره وپرکاراوتبليغ شوي، خودخداي (ج) په فضل داهرڅه پوچ وختل، اوپه استانبول کي دغلام رژيم دېوه مقتدرسياسي څارونکي هيلي وېري مړژوانديو اوله مايوسي وکي وي. همداډول دمجاهدينوپله ستره سياسي فتحه ، چي دکابل دحکومت پريدن له وژونکي ګوزارته هم بده وه ، هغه په اسلام آبادکي دګردومجاهدينو اوګاونډيو اسلامي هيوادونو غونډه وه ، چي په يوه داسي ګړېږيکړه ليک سرته ورسيدله ، چي اساس بي هماغه دمجاهدينو دپريکنده دريځ تجديد اوتائيد و، اوبدي ډول هغه ټولي غلط فهمي ليري شوي، چي دجهاد دښمنانودمجاهدينو دنړيوال اوبيا په تيره دهغوي دبين الاسلامي پرتم دمجروحولو لپاره پکاراچولي وي دي دري اړخيزي غونډي دېوه مقدس مثلث په توګه دکمونستي رژيم هغه ټولي دعوي په ځمکه ووهلي، چي دجهاددنه اغيزمنتيا اوبيابي دهغي دنړيوال حيثيت پاېلات دېوي کاذبي ادعا په توګه څرګنداو . له مقامي اوافاقي سياسي چاپيريال نه پرته که دانن سيادمجاهدينو سوبي په نظرکي ونيسو ، نوانشاء الله دابه مبالغه نه وي ، چي ګوډاګي رژيم دڅووروځومېلمه اوبه سياسي اوپوځي دواړو ډګرونو راپرځيدلي دي.

امريکا ترخليج وروسته اوس په پاکستان پسي راخيستي ده اعجازالحق

مردان :

دپاکستان دکار وزير اودجنرال ضياءالحق زوي اعجازالحق تيره ورځ په مردان کي بوي لويي غونډي ته داسلام په هکله دامريکا له شوم نيت نه پرده پورته کړه وويل : امريکا په خليج کي مسلمانان په خپل منځ کي سره وجنګول اودهغوي زوربي اوبه کړ اوس چي له هغي نه بي غمه شوي په پاکستان پسي بي رااخيستي ده، هغه وويل : امريکا دسازشو پواسطه زيارباسي چي پاکستان کمزوري کړي .اعجاز الحق داهم وويل چي سرينګرته داسرائيلي تخريبکارانو راتلل سبل اوچکر نه دي بلکي هغوي زموږ پراتومي بټيوباندي دحملي لاري چاري سنجوي .

دېويل خبرله مخي هندي اواسرائيلي جاسوسان دکابل حکومت دېته هڅوي چي دپاکستان پراتومي بټيو حمله وکړي پدي هکله ددريو خواوو ترمنځ په پلان کارکيږي،

دکپوره ګړي په حنفيه دارالعلوم کي انتخابات ترسره شول

مردان – دچنګابن ۲۳ مه :

دروان کال دچنګابن په ۲۳ مه نېټه دتنظيم طلبه ديني لخوا د کبوړي حنفيه دارالعلوم کي يوه درنده غونډه جوړه شوه .

پدي غونډه کي چي ګڼ شمير علماوو ، سپين ږيرو اوديني طلباوو برخه اخستي وه دقرآن عظيم الشان دخومبارکو آياتونو په تلاوت سره پيل شوه .

پدي غونډه کي چي خوساعته بي دوام وکړ علماوو اوطالبانو پکي وينااوي وکړي اوددي . وروستيو وخترنود توطيو اودسيسو دشنډولو لپاره بي لازمي لاربښونې وکړي په پاي کي غونډه دبرخوالوپه دعاسره پاي ته ورسيده اودنوموړي دارالعلوم انتخاب شوي غړي بي پدي ډول اعلان کړل :

١ – اخترمحمد دناظم په توګه

٢ – دبان دمرستيال په توګه

٣ – ګل پاچا داعلي ناظم په توګه

٤ – عمرګل دناظم دمرستيال په توګه

٥ – نجيب الله دنشراشاعت دمسئول په توګه

٦ – عنايت دنشراشاعت دمرستيال په توګه

دجلال آباد په ښارکي ګڼ شمير ښځو دمظاهرو په ترڅ کي ددښمن ټانګونه په تيرو وويشتل

جلال آباد – دزمري ۱۳ مه :

دجلال آباد دښار مومنو خلکو دروان کال دزمري دمياشتي په ۱۳ مه نيټه دېوي لوئي اودرنډي مظاهري په ترڅ کي ددښمنو قواوو ګڼ شمېر ټانکونه او هستوګن ځايونه په تيرو وويشتل .

پدي مظاهروکي سربيره ، پرتاريتو وګړي شمېر ښځو اوکوچنيانو هم برخه درلوده .

داسي مظاهره چي له کمونست دولت څخه دسختي کرکي اونفرت څرګندويه وه درژيم پلويانو دښارګوټي برخي خالي کړي وي اودلېري ځايونو ته ئي دمظاهره چيانو ليدنه کړله

دکابل رژيم دوه زغروال ټانګونه اويوه پوځي لاري ويجاړشول

کابل – دزمري ٦ مه :

دکابل ولايت دسروبي ولسوالي تومبالبو مجاهدينو دميديا په حواله خبرواکړي چي دنوموړي ولسوالي سرتيرو دروان کال دزمري دمياشتي په ٦ مه نيټه دېوه تعرضي بريدپه ترڅ کي چي دکابل ولايت اوسروبي ولسوالي دلاري په اوږدوکي بي ددښمنوپرقواوو اودبريښنا په سيستم ئي ترسره کړ دکمونست رژيم دوه زغروال ټانکونه سره له يوي پوځي لاري ويجاړاودرژيم دبريښناسيستم قطع شو .

خبرزياتوي : کمونستي رژيم دسختو وحشيانه بمباريو څخه کاراخستي خودمجاهدينو مورال دبراوچت دي اوجګړه په تندي سره روانه ده .

په پغمان کي دکمونست رژيم لس پوستي فتح شوي

کابل – دزمري ۸ مه :

دکابل ولايت دپغمان ولسوالي څخه په يوه وارسيدلي رپوټ کي ويل شوي چي دنوموړي ولسوالي شهيدپالومجاهدينو دروان کال دزمري دمياشتي په ۸ مه نېټه دپولرپرپالبو بريدونو په ترڅ کي چي دارغندي په سيمه کي ئي دکمونست رژيم پرپرتوپوستو ترسره کړل دکمونست رژيم لس پوستي فتح اوګڼ شمير کمونستان ووژل شول .

خبرځای ليکي : پدي بريالبو بريدونو کي دکمونست رژيم له پلويانو څخه زياته اندازه وسله ترلاسه شوي اومجاهدينو ته کوم تاوان ندي رسيدلي .

دجنګي بنديانو دخلاصون لپاره روسان له مجاهدينوسره مخامخ خبري کوي

پيښور – (نواي وقت) :

دافغانستان په جګړه کي دمجاهدينو په لاس نيول شوو روسي بنديانودخلاصون په هکله روښي واکمنو له مجاهدينو سره مستقيم ارتباط نيولي دي .

په پيښور کي له روسي هيئات سره دخبروپه دوران کي دمجاهدينوهيئات داشرط وړاندي کړ چي لومړي بايد په زرونو مجاهدين چي دکابل حکومت په زندانونوکي پراته دي خوشي کړاي شي، روسان په افغانستان کي مداخله بنده کړي اوله کابل حکومت سره ئوره مرسته ونه کړي .

خبري منابع وايي چي په دي وروستيو کي دروسي پوهيئات پيښورته راغلي، غوښتل يي چي دجمعيت اسلامي له مشر استاذرباني سره وګوري ، ولي هغوئ انجنيرعبدالرحيم سره پدي هکله خبري وکړي ددي ملاقات په هکله چي کله نواي وقت په اسلام آبادکي له انجنير عبدالرحيم سره رابطه ونيوله نوهغه داسي وويل : په دي کتنه کي دروسي سفارت کارکوونکو شرکت کړي و او دروسي جنګي بنديانو دخوشي کيدو غوښتنه يې وکړه .

هغه وويل چي روسان وايي له مجاهدينو سره ددوي (. . ٣) بنديان شته پداسي حال کي چي مجاهدينو دروسي بنديانو دشميرپه ارتباط هيڅ هم نه دي ويلي . هغه زياته کړه چي موږبه خبروکي روسانوته شرط وړاندي کړچي لومړي دي دوي ټول مجاهدين چي ورسره بنديان دي خوشي کړي .

بايدووايوچي دروسي بنديانودخوشي کولو لپاره تراوسه څوهيئاتونه چي شخصي اونيمه رسمي بڼه يي درلوده خودروسي دحکومت په اجازه راغلي وو له افغان مجاهدينو سره خبري اتري کړيدي خوڅه نتيجه بي نه ده تري اخستي .

مجاهدين غوښتنه کوي روسان دي دنجيب له حکومت نه لاس واخلي اومرستي دي پري بندي کړي .

دتنظيم طلبهٔ ديني لخوا دسرحد دارالعلوم په انګړکي انتخابي غونډه وشوه

پيښور – دزمري ۱۳ مه :

دېکشنبي په ورځ چي دروان کال دزمري دمياشتي له ۱۳ مي نېټي سره سمون خوري دپيښور دجامعه اسلاميه دسرحد دارالعلوم په انګړکي دديني طلباوو لخوا يوه درنده غونډه وشوه .

پدي غونډه کي چي ګڼ شمير علماو اوطالبانو برخه اخستي وه دقرآن عظيم الشان دخومبارکو آياتونو په تلاوت چي دقاري صاحب عبدالحکيم له خوا قرائت شول پرانستل شوه .

دغونډي په سرکي دطلبه ديني دپيښور دمرکزي حوزي پخواني مسئول ورور محمدطاهر "حقيار" عالمانه وينا وکړه اودخپلو خبروپه يوه برخه کي ئي وويل :

پرازي طلباوعلماوي چي دېوي اسلامي ټولني مسئوليت په غاړه لري نولازمه ده چي علماءکرام لکه څنګه چي په اسلامي انقلاب کي ئي نه هيريدونکي سترنرزي ګاللي اوبي ساري قربانۍ ئي ورکړي اوددښمنانو هرډول توطيي اوسازشونه ئي شنډ کړي دوي به دافريضه دژوند ترورووستي سلګي پوري په پوره ميړانه اوايمانداري سره سرته رسوي اوددښمنانو دهرډول توطيو اوددسيسومخ به دعلم په رڼاکي نيسي اوهم دبين المللي سازشونولکه دملل متحد ٥ فقره ايزه طرحه چي دپخوانيو واکدارانو لکه ظاهراودهغي ګرېي انډيوالانو داعادي لپاره ئي پکاراچولي ګلک مقابله کوي دهغي نه وروسته مقررينو په خپل وارسره خبري وکړي .

غونډه دقاريګرپه ٥ بجو دورورمحمدجمال نعماني په دوعائيه وينا سره پاي ته ورسيده دغونډي په وروستي برخه کي ئي نوي انتخابات پدي ډول اعلان کړل .

١ – ورور محمدطاهر " حقيار" دناظم په توګه

٢ – وروورخان ملک " کاتوال " دمرستيال په توګه وټاکل شو .

پلپات دمخالفو ډلو په خبروکي په پټه ګډون کړي دي

يوګوسلاويا / دزمري ١٦

په يوګوسلاويا دسر بيانولخوا اوکرشيا جمهوريتونوترمينځ جګړه روانه ده . د يوګوسلاوي خبري رپوټونه وايي جګړه اصلا اشيجك په سيمه کي ده ،مګردتلفاتو رپوټ نه دي ورکړشوي .ترډي مخکي ديوګوسلاويا مشرتابه ويلي ؤ چي اوربند به نن دګرنويچ په وخت په ځلوروبجونافذشي.

خبري آژانسونه وايي ديوګوسلاوي مشرتابه پرون په بلګراد کي په يوه اضطراري غونډه کي دغه خبره وکړه وويل :ديوګوسلاويا جمهوري رياست ټولو ګوندونو مطلق اوبي قيداوشرط اوربند منلي دي. دغه اعلان وايي دواړه خواوي به ديويل نه دومره لري لاړي شي چي يوبل ته به بي دوزومرمي نه رسيږي ددي اعلاميي نه وروسته دفدرالي حکومت دکروشيا جمهوريت اوبه کروشيا کي دسربيانو دنمايندګانو ترمينځ مذاکري پيل شوي.

اعلان

قراراست امتحان کانکور اختصاصي پوهنځي شرعيات جهاد پوهنتون به تاريخ ٣١ اسد سال جاري درمقر پوهنتون واقع تاون مع الخير اخذ ګردد. ثبت نام تا ٢٨ اسد ادامه دارد . داوطلبانيکه داراي شرايط ذيل باشند براي کانکورثبت نام مي شوند.

١ – سند فراغت ازصنف ١٢ مدارس ديني راداشته باشند.

٢ – داوطلبانيکه داراي تحصيلات غير رسمي اند . پس از سپري کردن امتحان خصوصي ثبت نام مي شوند.

٣ – ازفارغان معهد هاي شرعي نيز امتحان خصوصي اخذ مي شود.

اعلان پذيرش

مدرسه امام اعظم (رح) براي سال جديد ١٣٧٠ – ١٣٧١ درصنوف چهارم الى ششم خويش شاګرد مي پذيرد .

اشخاصيکه خواهش شموليت رادرمدرسه متذکره داشته باشندغرض ثبت نام به اداره ليسه مقابل توي اده پشاور مراجعه نمايند ثبت نام ازتاريخ اول سنبله ١٣٧٠ آغازمي شود .

دپاملرني وړ

خرنګه چي په دي ګڼه کي دعظيم الشان قرآن مبارك ايتونه تفسيرشوي ترغيله ده ، چي په ساتلوکي به بي دمسؤليت پوره احساس درسره وي .

اداره

شهادت

بيانګرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

موسس : انجنير حکمتيار

صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان

ناشر : رياست ارشادوفرهنګ

سال تاسيس : ١٣٥٧ هجري شمسي

تحت نظرهيئت تحرير

تلفون : ٦٢٧٨٩ – ٤٠٢٢٤ پشاور

پوست بکس (١٤٦٥) يونيورستي ټاون – پشاور

په کندهارکي ددښمن يوزغروال ټانګ اويوجيپ موټر ويجاړشول

کندهار – دزمري ۱۲ مه :

دکندهارولايت مجاهدينو دکندهارولايت نوي قشله ترخپلو راکټي بريدونو لاندي نيولي اودښمن ته ئي ځاني اومالي درانده تاوانونه اړولي دي په هغه رپوټ کي چي دنوموړي ولايت څخه ترلاسه شوي ويل کيږي : مجاهدينو دروان کال دزمري دمياشتي په ١٢ مه نيټه دېوه راکټي بريدپه ترڅ کي چي دکندهارولايت دنوي قشلي دقواووپه مرکز ئي ترسره کړ دلاس پوځي رژيم يوزغروال ټانک اويوجيپ موټرويجاړاوپکي سپاره کمونستان ووژل شول .

خبرځاي ليکي : پدي بريالي بريد دوه کسه عسکر مجاهدينوته تسليم شوي اوهم له مجاهدينو څخه دوه کسه ځوانان اويوکس دشهادت لوړمقام ته رسيدلي دي . روح بي دي ښادوي

په نيول شوي کشميرکي دحزب المجاهدين اوملي جبهي ترمنځ سوله وشوه

دخبروټو له مخي په نيول شوي کشميرکي دحزب المجاهدين اوملي جبهي ترمنځ چي کوم تاوتريخوالي موجود واوڅه غلط فهمي چي رامنځته شوي وي اوس ختمي شوي دي تيره ورځ دحزب المجاهدين دسرپنګرعمومي قوماندان موسي اودملي جبهي دعمومي قوماندان جاويد احمد اميرترمنځ اوږدي خبري وشوي ددي خبروپه جريان کي ټولي غلط فهمي له منځه لاړي اود دواړو تنظيمونو ترمنځ دهمکاري معاهده لاسليک شوه . همداراز يوه ګډه اعلاميه بي خپره کړه .

دواړو مشرانو په خپله دي ګډه اعلاميه کي ټولو مجاهدينوته ويلي چي دهندي ايجنټانوده خبرونکو سازشونو او اوازوپه وړاندي به هوښياروي هندي واکمن دمجاهدينو له کاميابو عملياتو نه وېر وارخطا شوي اوس هڅه کوي ددوي ترمنځ سوء تفاهمات راپيداکړي.دي مشرانو له ټولو تنظيمونوڅخه وغوښتل چي په ګډه دهندي اشغالګرېوځ په وړاندي وجنګيږو. بايد ووايو چي څورورځي وړاندي دسو تفاهماتوله امله ددي دوو تنظيمونوترمنځ وسلوالي نښتي شوي وي.

يك پوستهٔ حفاظتي پايپ لاين ګاز در ولايت جوزجان تخريب ګرديد

جوزجان ١٦ ازدر ١٣٧٠ :

خبرګزاري ميديا به نقل ازيك منبع جهادي ازولايت جوزجان خبرميدهدکه مجاهدين بتاريخ ٨ اسد سال جاري بالاي پوسته هاي حفاظتي پايپ لاين ګاز مستقردرولسوالي سرپل ولايت جوزجان حمله نمودند که درنتيجه يك پوسته درمنطقه جرقدق تخريب ګرديد .

خبرعلاوه ميکند : طي اين عمليات ٥ تن ازافراد رژيم هلاك و٥ تن ديګرباسلاح دست داشته ومقداركافي مهمات نظامي به اسارت مجاهدين درآمدند .

دبنګله ديش حکومت په اساسي قانون کي تعديل راولي

دزمري ١٦ نيټه :

دبنګله ديش حکومت دپارلمان له لاري په اساسي قانون کي دېومهم تعديل راوستلو کوشش کوي چي دهغي له مخي په هيوادکي صدارتي نظام په پارلماني نظام بدليږي .اوددغه تعديل په اساس به چي صدراعظمي خالده ضيا پيشنهادکړي، دولسي جرګي د ٣٣٠ غړوڅه ٣٠٧ تنو موافقه رايه ورکړه اومنفي رايه هيڅ نه ده ورکړ شوي ممتنع رايي سودل شوي ندي . دشيخ حسيني واجد عوامي ليګ چي دخالده ضياء دملي مخالف ګوند دي هم ددي قانون ملاترکړيدي " ددي قانون په هکله به ملي ريفرنډم کيږي ددي نوي سيستم په اساس به صدراعظمه خالده ضيا زيات اجرائيه قدرت ولري.

رهبرحزب کمونيست فدراسيون روسيه استعفا نمود

مسکو ١٦ اسد

ايوان پلوشکوف رهبر تندرو حزب کمونست روسيه اصلاح طلبان راشديدا موردحمله قرارداد اوطي ايراد سخناني دريکي از جلسات مهم حزب ،حزب دموکراتيك کمونستهاي شوروي را که هفته پيش تشکيل شد سازمان دغل بازان خواند .

پلوشکوف ضمناً فرمان هفته قبل يلتسن رهبر فدراسيون روسيه را که طي آن فعاليت‌هاي حزبي منع شده ،محکوم کرد وي آنرا حمله خائنانه به آزادي خواند ، اکنون وي از رهبري حزب کمونيست روسيه استعفا داده واستعفاي وي بحيث احتجاجي بعداز حمله اوعليه اصلاح طلبان حزب پخش شد.

اعلان

قراريکه همه اطلاع دارند دورهفتم انتخابات حزب اسلامي افغانستان رسماً ګشايش يافت به همين سلسله انتخابات درحوزه ٢٦ شهري پشاورکه مناطق : حيات آباد، بورد ، نعمت محل، سپين جماعت ، تاون ، جهانګير آباد، آبدره رود، ارباب رود، تهکال بالا ، تهکال پايان ، صدر، ګلبرګ ، نوتيه ومناطق حومه آن به استثناي کمپ ها،دربرمي ګيرد سرازيوم شنبه مورخ ٢٦ اسد سال ١٣٧٠ الي ٢ سنبله ١٣٧٠ به استثناي روزجمعه همه روزه دردفترسياسي حزب اسلامي افغانستان (مهمانخانه سياسي) واقع آبدره رود برګزارميګردد .

اعضاواركان حزب پاكارت عضويت خويش همه روزه ازساعت ٨ صبح الي ٧ شام به آدرس فوق تشريف آورده وراي شانرا درصندوق انتخابات بريزند .

موږپه افغانستان کي ديوي شيبي لپاره هم غير اسلامي حکومت نه منو